

# مغلگی د تاریخ هیره حماسه

لیکوال: عزیزالله ځلاند



مغلگی د تاریخ هیره حماسه

لیکوال: عزیزالله ځلاند

۱۳۹۷ل



د مغلگي د شهیدانو هدیره

# مغلګی

# د تاریخ هیره

# حماسه


لیکوال

**عزیز الله ځلاند**



۱۳۹۷ل/ ۲۰۱۸ز

# مغلگی د تاریخ هېره حماسه

لیکوال: **عزیز الله ځلاند**

ډیزاین: **سپین سهار**

خپرندوی: **لید څېړنیز مرکز**

چاپکال: **۱۳۹۷ل/ ۲۰۱۸ز**

**ددې کتاب د چاپي او آنلاین خپرولو ټولې رښتې له خپرندوی سره خوندي دي**

# ډالۍ

د مغلگي د شهیدانو پارک روح ته!
چې د ډیورنډ کرغیړنې کرښې د له منځه تلو او لوی افغانستان
د جوړېدو په ارمان شهیدان شول

# نیولیک

مغلگی د پښتون ژغورنې مورچل ........................................................ ۱۲
د پیل خبرې ........................................................................... ۱۵
مننه او کور ودانی .................................................................... ۱۸
لومړی خپرکی .......................................................................... ۲۰
انگرېزان په هند کې ................................................................... ۲۰
سکان او د افغانستان ختیځ ولایتونه .................................................... ۲۳
رنجیت سنگ او د پېښور نیول ۱۸۲۳ زکال ................................................ ۲۶
امیر دوست محمد خان او پېښور ........................................................ ۲۸
شاه شجاع ته کابل نیسي ............................................................... ۳۰
دویم خپرکی ........................................................................... ۳۲
انگرېزان د سند په ښۍ خوا کې ......................................................... ۳۲
د افغانستان او هند تر منځ د سرحدي پولې اړتیا ...................................... ۳٤
د پرمختگ سیاست For ward policy .................................................... ۳٦
انگرېزان او د قلات خانان ............................................................. ۳۸
امیر عبدالرحمن خان او انگرېزان ....................................................... ٤۳
امیرعبدالرحمن خان او د ډیورنډ کرښه ................................................... ٤٥
د ډیورنډ پر کرښه غبرگونونه ........................................................... ٥۱
دریم خپرکی ............................................................................ ٥۸
د زور گاونډی، د غاړې غړوندی ......................................................... ٥۸
۱: د پاکستان د جوړښت مسئله: ......................................................... ٦۰
حاجي میرزا علي خان (ایپي فقیر) ..................................................... ٦٦

د گورویک تحریک او د بنو جرگه ........................................ ٦٧
ځلورم څپرکی ........................................ ٧٠
مغلگی د تاریخ په څنډه کې ........................................ ٧٠
مغل، مغلگاه، مغل مېله، مغلگی: ........................................ ٧٠
د مغلگي اقتصادي او نظامي اهمیت ........................................ ٧٣
پاکستان او مغلگی: ........................................ ٧٤
مغلگی او د خوست قومونه ........................................ ٧٧
د مغلگي د شهیدانو نوملړ ........................................ ٧٩
لنډ سفر او اوږد منزل ........................................ ٨١
د مغلگي په مقام د قومي مشرانو سره مرکې: ........................................ ٨٣
د مغل گي د پیښې په اړوند د مغلگي په مقام د قومي مشر همیم منگل مرکه: ٨٣
د مغلگي د شهیدانو په هدیره کې د ځدراڼو د قوم مشر محمد گل سره لنډه مرکه:
........................................ ٨٤
مغلگی او محراب خان گربز: ........................................ ٨٥
د مغلگي د پیښې په اړوند د محراب خان گربز لنډ توضیحات: ........................................ ٨٥
د مغلگي په اړه د خوست د منگلو د قوم د یوه مشر مرحوم امین جان د وینا لنډیز:
........................................ ٨٥
د قومي مشر میرنا گل تنیوال د وینا لنډیز: ........................................ ٨٦
د مغلگي د شهیدانو په اړوند د مروت خان وطنجار دشفاهي وینا لنډیز: ........ ٨٧
د مغل گي د شهیدانو په هدیره کې د عزیزالله ځلاند سره د لنډې مرکې متن: ٨٨
د مغلگي پر پیښه د قومي مشرانو سره لنډې مرکې: ........................................ ٨٨
د تنیو یو تن قومي مشر حکیموالي سره د نریزې په کلي د بمبارد په هکله لنډه
مرکه: ........................................ ٩٠
انځورونه ........................................ ٩٧
د لیکوال لنډه پېژندنه ........................................ ١١١

# پر زيارت سرې جنډې رپيږي
# په کنډو جنګ دی، ژړېي غرونه لړزوينه

د ډيورنډ تر کرغېړنې او تپل شوې هوکړې وروسته، د دغې ښکېلاکي کرښې په وړاندې، پردواړه غاړو د پرتو قومونو او قبايلو ملي پاڅون او جګړه د افغانانو د وياړلي تاريخ يوه زرينه پاڼه ده. په دوی کې د ملا پوونده او ايپي فقير مبارزې د ډېرې څېړنې او رابرسېرونې وړ دي، چې له بده مرغه تر اوسه پرې يو بشپړ تحقيقي کار نه دی شوی.

انګريزي مورخانو او سيمه څېړونکيو څه ليکنې کړي، چې ښکېلاکي رنګ وبوی لري. ښايي په سيمه کې د انګريزي ښکېلاک په ميراثي مرکزونو کې هم لږ وډېرې څېړنې شوې وي، خو په افغاني څېړونکيو کې د ښاغلي سنګرمل او ځوان ليکوال نذيراحمد سهار هڅې د ستاينې وړدي.

له نېکه مرغه، په دې لړ کې، د دغو مبارزو د يوه پاړکي (د مغولګي پېښې) په اړه زموږ د قدرمن ليکوال ښاغلي عزيزالله ځلاند دغه رساله يوه ښه زياتونه ده.

دغه رساله له موضوعي پلوه په درې لويو برخو ويشلی شو، لومړی برخه تاريخي مخينه ده، چې له انګريزانو او سېکهانو سره د افغانانو مبارزې او په دې لړ کې، پربې ارادې او سستو سياستوالو باندې ښکېلاکي تپل شوي

تړونونه په کې ځېړل شوي دي. تر دې وروسته د مغولګي سيمه او پېښه راپېژندل شوې او په درېيمه برخه کې د ليکوال او دهغه د ملګرو هغه لنډ ځېړنيز يونليک، پېښليد او د مرکو ټولګه ده، چې د پېښې په اړه يې ساحوي پلټنه Field Research هم ګڼلای شو.

له انګريزانو سره د افغانانو د جګړو يوه لويه انګېزه له کافرو يرغلګرو سره جهاد او عقيدوي مبارزه وه، چې په لومړي سر کې يې ملي او هېوادنۍ انګېزه يوڅه تر سيوري لاندې راوستله، خو په درېيمه افغان ـ انګريز جګړه کې په دوو لاملونو ملي او هېوادنۍ انګېزه پياوړې شوه. لومړی دا چې پښتنو مبارزينو خپل هويتي ارزښت او زمکنۍ بشپړتيا تر ګواښ لاندې ليدله او داځل نو دوی د انګريزانو له لويو ناروااوو (ګندمک او ډيورند) سره مخامخ ول، چې د دوی پلرنی ټاټوبی يې د جبر په چاره په منځ نيماوه او دوهم يې داو چې په کابل کې د مشروطه غورځنګ او ځوان روښانفکري خوځښت له برکته، يوه ژمن سياسي جوړښت په يوه ويښه او هوښياره شېوه د افغاني جګړې رهبري په لاس کې نيولې وه.

دواړو پېښو پر هغو پښتني مبارزينو شعوري اغېز درلود، چې په وزيرستان او نورو قبايلي سيمو کې د انګريز او بيا وروسته پاکستاني حاکميت پر وړاندې جنګېدل.

د ايپي فقير مبارزه ځکه د ډېر پام وړ ده، چې د انګريز له تللو سره پای ته ونه رسېدله، بلکې د پاکستان له رامنځته کېدو سره يې نوي اړخونه او اصلي هدف لا پسې څرګند شو، ايپي فقير د ۱۹۴۷ کال د جون پر ۲۱ مه د بنو په لويه جرګه کې د پاکستان په نامه د کوم هېواد له منځته راوړلو سره څرګند مخالفت وښود او په ښکاره يې د يوه پښتني واحد هېواد او

حکومت جوړولو ژمنه وکړه، د دې ارمان لپاره وجنگېده او تر مرگه یې پاکستان ونه مانه. د ایپي فقیر او نورو ملي مبارزینو دغه پاکستان ضد مبارزه دومره توده او پراخه وه، چې د مبارزې په ټول بهیر کې ولسونو په عمل کې د ډیورندکرښه له منځه وړې وه او دیوه واحد ولس په توگه د انگریزي ښکېلاک د میراثخور په وړاندې جنگېدل.

خوست، بنو، رزمک، گرویک، خدرخېل، مکین، کورمه، ټل، وانه، کوهاټ، باجوړ، خیبر، مومند، اسمار، ځاځي میدان، شکین او په لسگونو نورې سیمې یو په بل پسې راپاڅېدلې. پښتني ولسونه تردې هم وړاندې ولاړل او ډېر ژرېې د پاکستان په وړاندې لومړنی افغاني جمهوري حکومت رامنځته کړ، چې مشري یې میرزالي (علي) خان (ایپي فقیر) کوله.

دپښتنو د همدغو ولسي پاڅونونو په لړ کې یو یې د مغولگي قومي پاڅون و، چې د همدې رسالې په روایت په ۱۳۲۸ لمریز کال کې د خوست بېلابېل قومونه سره راغونډ شول او د مغولگي سیمه یې خپل معسکر وټاکه. دوی دلته د راټولېدو په درشل کې پر دودیز اتڼ او لښکر جوړولو بوخت ول، چې پاکستاني الوتکو پرې بمونه وغورځول او تر دېرشو زیات خوستي پاڅونوال یې شهیدان او گڼ نور ټپیان کړل.

د مغولگي پېښه وړه پېښه نه وه او ښایي یوازینۍ هم نه وه، ځکه د پاڅونونو او بمباریو لړۍ پراخه او دوامداره وه. دا چې تاریخونو دغو پاڅونونو ته زیات پام نه دی اړولی او لا یې هم کیسې د خلکو په سینو او ولسي ادبیاتو کې خوندي پاتې دي، یو لامل یې د مستبدو حاکمیتونو واکمحوره فکر او له ولسي پاڅونونو سره سیاسي چلند گڼلای شو. یوه

زمانه داسې هم وه، چې د افغانستان ورستو شاهي نظامونو د جمهوريت پلوه افکارو او د خپل اقتدار له لاسه ورکولو له ويرې د لوی افغانستان داعيه، هغه ډول چې ښايي، نه ده پاللې او د ولسونو قربانۍ يې بابېزه گڼلي دي:

د همدې رسالې په روايت:

**په مغولگۍ وينې ډنډونه**

**نه يې مرغان څښي، نه يې زمکه وچوينه**

خو ولس او خلکو دخپلو مبارزو شهيدانو ياد ژوندی ساتلی دی او دا دی د ولس ريښتينو لوڼو او زامنو د خپلو ملي اتلوليو د ياد او تاريخ ژوندي ساتنې په پار د دغې ملي حماسې روايت ليکلی او خوندي کړی دی، چې ښايي يوځل بيا د ښاغلي ځلاند او د هغه د ملگرو له دې زيار څخه مننه وکړو.

ارواښاد اکادميسين پوهاند عبدالشکور رشاد په خپل کتاب (جغرافيايي ياداښتونه) کې د مغولگۍ ذکر داسې رااخيستی دی:

(له خوست څخه درې لارې ميرامشاه ته ځي:

۱ـ للي ژه دره په تڼيو کې پرته ده.

۲ـ انځرکي دللي ژي شرق ته. مغول گۍ دلته واقع ده.

۳ـ گولم خان لار... (۶۲۰ مخ)

د مغولگۍ پاڅون د ډيورند کرښې په وړاندې او د پاکستان جوړېدو په

مقابل کې، د پښتون ولس د احتجاج غږ دی. له همدې ورځې راپه دې خوا پښتنو خپل غوڅ دريځ څرګند کړی دی. دا چې د تاريخ په اوږدو کې دوی د جبر او تشدد تر لنبو لاندې د لنډو مودو لپاره چوپ شوي دي، هيڅکله په دې مانا نه ده، چې دوی دې ګواکې د ډيورند کرښه د پولې په توګه منلې وي او يا يې هم پاکستان د خپل هېواد په حيث پېژندلی وي. د خوستي پښتنو قرباني د دې ښکارندوی دي، چې اوبه په ډانګ نه بېلیږي او پښتانه په ډيورند.

د مغولګۍ له حماسې څخه ترنن پورې د انګريزي ښکېلاک ميراثخورو د وزيرستان پر جغرافيه ګڼې نارواوې او ظلمونه جاري وساتل، دا خلک يې له هرمدني حق څخه محروم کړل، د دوی مشران يې ووژل، زلمي او ان پېغلې او تورسرې يې ورڅخه بوتللې په زرګونو کسان يې ورک کړل، ښارګوټي، کلي، کروندې او جوماتونه، ديرې او اوجرې يې ورته بمبارکړې، کله يې د ضرب عضب په غضب اخته کړل او کله يې د ښو طالبانو (Good Taliban) په ظلمونو شکنجه کړل، کله يې د داعش په نامه وجزول او کله يې هم د اوزبېکستانيو، تاجيکستانيو، چين او چيچين اورپکو تر خونړيوتور برېښونو لاندې دومره وځپل چې خپل کلي و کورونه پريږدي او په نورو سيمو کې سرونه تر سيوري کړي. پاکستاني کړيو د استخباراتي مدرسو په زور په سيمه کې افراطيت ته ريښې ورکړې او دغه سوله خوښې سيمه يې، دترهګرۍ په نامه، له ټولې نړۍ سره په جګړه کې ښکېل کړه. په زرګونو کورنۍ خپلو هغو خوستوالو او پکتيکاوالو عزيزانو ته راواوښتې، چې يو مهال يې د همدوی د عزت ساتلو په پار په مغولګۍ کې خپله وينه ورنذرانه کړې وه.

د پښتونژغورنې نومهالي پاڅونونه د همدغو ظلمونو او نارواوو په وړاندې دهغه ولسي مقاومت او خوځښت برخه ده، چې نږدې اویا کاله پخوا له مغولگۍ، بنو، رزمک او ایپي (ایوبۍ) څخه راپیل شوی و. دا پاڅونونه به د پښتنو تر بشپړې خپلواکي، د لوی افغانستان تر جوړېدلو او د ډیورند کرغېړنې کرښې تر بشپړ له منځه تللو پورې روان وي.

زه په داسې شېبو کې چې د ښاغلي عزیزالله ځلاند دغه هڅه ستایم او د مغولگۍ له شهیدانو رانیولې تر ننني هغو پورې د ټولو ارواوې راننگوم، چې د بېلتون کرښه دخپلو وینو په سیلاو کې رنگه کړي، چې بېشکه لوی خدای به یې ارواوې د جنت ښکلې مرغۍ کړي.

په همدې دعا

دا تاسو او دا هم د مغولگۍ د حماسې یو یاد

څېړنوال عبدالغفور لېوال

۱۳۹۷ د ثور ۱۵ مه

کابل ـ جمال مېنه

# مغلگی د پښتون ژغورنې مورچل

جورج سنتانیا (پېژندل شوی هسپانوي فیلسوف) وایې ـ هغوی چې تاریخ نه لولي، پر هغوی به د تاریخ بدمرغۍ بار، بار تکرارېږي. له دې امله مغلگی د تاریخ هېره حماسه کتاب د لوی افغانستان د تاریخ هغه مېړانه ده چې د پنجاب د بربریت او دهشت په خلاف یې د تل د پاره د تاریخ ویاړ په سینه ټومبلی دی.

عزیز الله ځلاند سره له ملگرو یو ستر تاریخي حقیقت په داسې حساس وخت کې رابرسېره کړی چې پښتون ولس یو ځل بیا د پنجاب د وحشت او دهشت خلاف غبرگ پورته کړی دی. پښتون ولس د داسې پوځ او استخباراتي شبکې گریوان ته لاس ور اچولی چې په سیمه او نړۍ کې د دوه رنگۍ، منافقت او ظلم تور تاریخ لري، د بنگله دېش د مسلمانانو وینې چې د پنجاب پوځ له ۱۹۴۷ څخه تر ۱۹۷۱ ز کال پورې توی کړې هغه لا هم نه دي وچې، خو پښتون تېر ته د ایپي فقیر، ملا پوونده او فخر افغان د مبارزې داسې توکې ور پاتې دي چې دا دی لسیزې وروسته یې یو ځل بیا دا ترهیدلی، وېریدلی پوځ پسې اخیستی دی.

"مغلگی د تاریخ هېره حماسه " د لیکوال او ملگرو په زیار د ژوندي تاریخ یاداښت دی چې د ۱۹۴۹ م د جون د ۱۲ د ظلم ژوندی انځور وړاندې کوي، په داسې توگه چې لیکوال سره له ملگرو نوموړې سیمې ته سفر کوي، د څېړنې د میتود څخه په گټه اخیستنه پوښتنې، گروېگنې

کوي، معلومات را غونډوي، د دې معلوماتو د ارزوني او څار د پاره تاریخي شالیدونه وړاندې کوي او بلاخره یوه ستره پېښه چې په کې د خوست مېړنیو قومونو، ځوانانو، مشرانو د وطن د خپلواکۍ، د لوی افغانستان د ارمان د پوره کیدا او د ډیورند دکرغیړنې کرښې د ړنگیدا کوم عملي گام چې پورته کړی د هغه منظر کشي کوي.

زه لیکوال او د دوی ملگرو ته مبارکي وایم نه یوازې په دې چې یوه ستره تاریخي پیښه او مهمه سیمه لوستونکو ته وړاندې کوي بلکې ددې هم چې د ځوان کهول د پاره یې د تاریخي پیښو د ثبت، لیکلو او را برسېره کولو اسانه او علمي لار پرانیستله. موږ په گران وطن کې پدې وروستیو کې گڼې داسې پیښې وینو چې د اغزن تار تر نامه لاندې د پنجاب د پرمختگ د پالیسۍ (Forward Policy) ادامه چې له انگریز څخه یې په میراث را نیولي په مخ روانه ده، زموږ په گران وطن کې د جنگ، وژنو او چور داسې وحشتناکې پېښې هره ورځ پیښیږي چې هره یوه یې څېړنې، شننې او څېړنې ته اړتیا لري، هغه باید ولیکلی شي، د کتاب او رسالې په بڼه له شته لاسوندونو، د پیښې له وخت او نېټې د ذکر سره یو ځای باید د راتلونکو نسلونو د پاره ثبت شي.

موږ باید خپل تاریخ په خپله ولیکو، ویې لولو او ترې عبرت واخلو. د مغلگي د پېښې د تاریخ د پاره د تاریخي شالید وړاندې کیدا د همدې اړتیا یوه مهمه بېلگه ده چې موږ ته د خپلو پخوانیو لیکوالانو، شننونکو او استاذانو څخه را پاتې ده، که موږ د نن ورځې پېښې ولیکو زموږ را تلونکي نسلونه به همدا پیښې د گران وطن او مظلومو افغانانو د تاریخي پس منظر په توگه د خپلې سږې راتلونکي او بریالي ژوند دپاره د لارې مشال وگرځوي.

د مغلگي پيښه وړه پيښه نه وه، نه هم دا پيښه بايد له ياده وه ايستل شي، ددې پيښې تر ټولو مهم اغېز دا و چې د پنجاب د ظلم او پښتون وژنې دسيسه را برسېره کوي، دوی ٦٩ کاله د مخه همدا د نن ورځې تګلاره پر مخ وړه، پښتانه يې يو ځای کيدو ته نه پرېښودل، پښتانه يې په يو نوم او بل نوم وژل، د هغوی مېنې يې ورانولې، هغوی يې د ژوند له پرمختګونو څخه بې برخې کول، همدا کارونه کټ مټ له تېرو درېو لسيزو را هيسې کوي. د خوست د ګلان کمپ چې زموږ د وجود ټوټې، قدرمن وزير او داوړ بې ځايه شوي ورونړه پکې مېشت دي، چې د پنجاب پوځ د ټولو نړيوالو او ملي قوانينو برخلاف له خپلو مېنو څخه په ظلم، ويشتلو، وژنو ويستلي او په خوست کې په سخته کې ژوند کوي، د مغلګي د پېښې يو بل تت او بدرنګه انځور دی.

هيله ده چې دا کتاب تر زياتو پښتنو ځوانانو ورسيږي، هغوی ترې د ليکلو ميتود، د تاريخي پېښو د يادانښت ترکيب او په لويه کې د ډلييز بريالي کار هنر ترې زده کړي. ددې ترڅنګ د مغلګي د پېښې د قهرمانو شهيدانو روح او روان ته دعا وکړي، د هغوی قربانۍ د نني پښتون ژغورنې غورځنګ پيل وګڼي او هغه ستر احمد شاهي افغانستان (لوی افغانستان) ته بريالۍ هڅې لا ګړندۍ کړي.

**ځانګه به نن سبا کې ګل شي**

**ما يې په سر کې سرې غوټۍ ليدلي دينه**

فيض محمد "ځلاند"

کابل پوهنتون، کابل

# د پیل خبرې

دا کتاب چې نن ورځ د تاریخ مینه والو په خدمت کې دی د هېواد په کچه په خپل ډول کې نوی کتاب دی چې د هېواد د تاریخ یوه تیاره کونج ته څراغ ور روښانه کوي، د هېواد تاریخ د مغلگي په اړوند ډېر لږ معلومات لري او که مغلگی د څنډې هغې خواته قدم واخلي ممکن داسې کړنگ ته وغورځي چې بخت او تدبیر به یې په راپورته کولو کې عاجز پاتې شي. تېر کال ۱۳۹٦ هـ ش د روژې په میاشت کې چې ممکن د جوزا د میاشتې ۲۲ نیټه به وي د خوست له ښار نه یو دوست راته تیلیفون وکړ چې سبا د خوست د ښاروالۍ په تالار کې د مغلگي د شهیدانو د یاد بود غونډه ده که تکلیف نه وي نو هلته تشریف راوړئ په سبا زه هلته ورغلم په تالار کې څلور تنه سره کیناستو او د نورو د راتگ په هیله مو یو بل ته کیسې کولې او آخر په دې پوه شو چې زموږ له څلور کسانو څخه نور څوک نشته، مخونه مو یو بل ته سره واړول چې خلک په نه راتک ملامت نه دي د مغلگي د شهیدانو په نوم غونډه د ډېرو لپاره نااشناه خبره ده او بیا که روڼ اندي یو څه معلومات ولري نو د مغلگي شهیدان له هغې ورځې تر نن پورې چې د وطن په سر یې د مغلگي په

میدان کې سرونه ورکړل د یو بوتل سپینو اوبو د ورکړې طاقت هم نه لري په داسې حال کې به څوک څه د دوی په نوم غونډه کې ګډون وکړي. له ډېر خفګان وروسته موږ څلور کسانو: د نادرشاه کوټ له ولسوالۍ څخه فضل وزیر هیله من، د لتیکو څخه ښاغلی ډاکټر جبار، له مرکز څخه ښاغلی محمد غفور مهیدي او ما (عزیزالله ځلاند) په دې پریکړه وکړه چې د مغلګي اړوند معلومات دې د یوه کتاب په بڼه راټول شي ترڅو د مغلګي د شهیدانو لکه ګیلو څخه مو یو څه غاړې سپکې شي، درې واړو د کتاب لیکلو باره زما په اوږو واچوه او ما هم د خبرې د منلو په دود خپل سر دوستانو ته وخوځوه. کتاب نه ؤ سم د غني جال ؤ د مغلګي په اړوند د هیواد د ټولو پیاوړو لیکوالانو په لیکنو کې له دې ۲ جملو نور څه نه ؤ: مغلګی بمبارد شو او ۲۲ تنه هیوادوال پکې شهیدان شول او بس.

د معلوماتو د راټولولو لپاره د خوست په ۱۲ ولسوالیو او درې اداري واحدونو تر ډېره وګرځېدم، زما لپاره تکیه ګاه هغه سپین ږیري وګرځېدل چې د مغلګي په جنګ کې یې خپله حضور درلود او یا د هغه چا زامن او لمسیان وو چې د مغلګي په جنګ کې شهیدان شوي وو او معلومات یې د ډاډ وړ وو هغه څوک چې ما ورسره مرکې درلودې د هغوی عکسونه مې واخیستل ترڅو له یوې خوا دقیق معلومات راکړي او له بلې خوا د دویخدمت وشي، د مرکو په جریان کې په یقیني توګه ماته داسې شواهد په لاس راغلل چې په مغلګي باندې د خوست د قومونو راټولیدنه مسقیم د ډیورنډ د کرښې سره اړیکه لري همدې اړیکې د مغلګي د اړوند مسایلو په لور زما لپاره دروازه خلاصه کړه ځکه چې مغلګی د ډیورنډ کرښه، هند ته د انګرېزانو له راتګ او د سکانو او افغانانو ترمنځ جګړې او له سکانو

وروسته د افغانانو او انگرېزانو ترمنځ، پر افغان ولس تحمیلي جگړې او تړونونه، د هند د لویې وچې ویش او د پاکستان رامنځ ته کیدل او له ۱۹۴۷ م کال څخه تر نن پورې د کرښې په دواړو خواو کې پر اوسیدونکو د پاکستان تیری او تجاوز هغه مسایل دي چې د کتاب منځ پانگه جوړوي.

د مسایلو په توضیح او تشریح کې مې تر خپله وسه موضوع د اهمیت له مخې څېړلي ده او دخپلې پوهې په کچه مې د کتاب له بې ځایه پنډوالي او د لوستونکو د قیمت بیه وخت د ضایع کولو مخه نیولې ده.

په درنښت

عزیزالله ځلاند

# مننه او کور ودانی

مغلگی د تاریخ هېره حماسه د کتاب د لیکلو په وخت کې له ګڼو ستونزو سره مخامخ شوم او د دې ستونزو پته هغه وخت راته ولګیده چې د هېواد له مطرحو لیکوالو سره مې پر تیلیفون د دې تاریخي موضوع په باب نظر شریک کړ.

دوی راته وویل چې موږ یوازې د ملغګي نوم اوریدلی، لدې سربېره په لیکلي او تحریري بڼه د مغلګي د پېښې په اړه نور څه نشته.

څه د ځان درنې به وایم، الله ج ته پته ده چې د نشت په ویلو خو خفه شوم ولې وارخطا نه، ځکه پوهیدم چې مغلګی د تاریخ پدې بدو او تیارو وختونوکې تر خاورو لاندې هغه واقعیت دی، که راوسپړل شي، هغه څه به ورڅخه راښکاره شي چې په بند دیګ کې د ننه پراته دي.

د کتاب اړوند مشکلات ما په زړه کې ونه ساتل له دوستانو سره مې شریک کړل، هر یوه په خپل وار د مرستې ډاډ راکاوه او په دې قطار کې د سر سړی د غرغښت تلویزیون مشر سخي سرور میاخېل ؤ، چې د خبریال طالب منګل په ملتیا یې زما ملا وتړله.

طالب منګل ما د خوست په کچه د سیاسي فعالیوتونو په ساحه کې ډیر لیده خو د ده توان او ښه ملګرتوب هغه وخت راته څرګند شو چې د خوست قومي مشرانو د مغلګي په لور د شهیدانو د درناوي په موخه لنډ سفر پیل کړ.

د فضل وزیر هیله من په دعاګانو چې د نادرشاه کوټ ولسوالۍ اوسیدونکی دی له مشرانو ډک د موټرو کاروان له مغلګي روغ رمټ

خوست ته راوګرځېده، هغه مشران چې د مغلګي د شهیدانو د قبرونو په سر یې هغوی ته د مغفرت دوعاګانې وکړې د شهیدانو له ارمانونو سره یې کړې ژمنې او عکسونه په کتاب کې موجود دي خو د منګلو قومي مشر مرحوم ظابط امین جان مجاهد ژر رانه لار بیله کړه او پاک روح یې حق ته وسپاره، افسوس چې د کتاب د چاپ تر وخته راسره مل وای.

دا خبره چې راتلونکی په ځوانانو پورې اړه لري ما د سر په سترګو ولید، ځوان لیکوال محمدعظیم عظیمي " ځني خېل " په زیات شمېر لیکلي معلومات د مغلګي په اړوند په واک کې راکړل او د همدې مالوماتو له برکته مې د منزل په لور ګړندي ګامونه واخیستل. د مغلګي د شهیدانو د نومونو د موندلو لپاره اړینه وه چې د خوست ټولو اداري واحدونو ته ولاړ شم او په ډېره ځیرکتیا سره د مغلګي د شهیدانو اړوند معلومات راټول کړم. له شک پرته په دې تګ راتګ کې له امنیتي او اقتصادي ستونزو سره مخامخ وم خو قدرت الله ځلاند، حشمت الله ځلاند او رحمت الله ځلاند یادو ستونزو ته اوږه ورکړه او زه یې یوازې پرېنښودم.

په ادبي او تخنیکي لحاظ د کتاب په ترتیب او تنظیم کې راسره لیکوال او خبریال نجیب الله الوخېل ملګرتوب وکړ او پدې برخه کې یې خپلې تجربې په عملي او نظري ډول راسره شریکې کړې.

د خوست د میدیوتیک مرکز مشر سیف الله حیات مننه کوم چې تر خپله وسه ده هم د مالوماتو په راټولولو کې راسره مرسته وکړه، همدارنګه له پیاوړي استاد د لوی افغانستان ستر ارمانجن ښاغلي فیض محمد ( (ځلاند ) ) مننдوی یم چې د کتاب مالي پېټی یې پر اوږه واخیست او دا کتاب یې عملاً چاپ کړ.

## لومړی څپرکی

# انگرېزان په هند کې

یوه انگرېز ویلي دي، چې د افغانستان خاوره په خپل ذات کې د هیڅ تمه کوونکي هېواد نظر نه راکاږي، خو دا چې د نړۍ د لوټمارانو لپاره هندوستان د سروزرو خزانه وه، نو د هند د شتمنیو د نیولو او لوټلو لپاره نینوس، سرامس، دارا، سکندر، چنگیز، تیمور، بابراو د نادرافشار په شان نور ډېر ښکېلاگر د افغانستان له لارې په هند ورختلي دي او د هغوي شتمنۍ یې لوټلي دي.

په پیل کې افغانانو د دې لوټمارانو سره په تشو لاسونو له گریوانو نیولي دي، زموږ په شکور او کنډول کې له دربې وروسته د سند له رود پورې وتلي او هندوستان یې لاندې کړی دی.

خو د تاریخ پدې پړاو کې دا ځل د نړۍ لوټماران د هند له لارې تر موږ راورسیدل او د رسیدو غم لړلې کیسه یې داسې ده:

د نړۍ په تاریخ کې استعمار په ۱۴۹۳ ز کال په واتیکان کې د پاپ له وینا څخه چې وروسته د وېش د فرمان په نوم یاد شو، راپیل شو. د دې فرمان په اساس د اتلانتیک په سمندر کې د ازور له ټاپوگانو نه (۶۰۰) کیلومتره لویدیځ لوري ته د شمال نه د جنوب په خوا یو فرضي خط رسم شو، د

دې فرضي خط له مخې ټولې لویدیځې ځمکې (په اتلانتیک کې ټول پراته ټاپوګان او د امریکې نیمه وچه) پرتګال ته ورسیدې.

د خط د ختیځ لوري ټولې ځمکې (هند، چین، جاپان او ټوله افریقا) هسپانیه ته ورسیدې او له همدې وخته د پاپ د یاد فرمان له مخې استعمار په نړۍ کې پیل شو. په اروپا کې د صنعت ګړندی پرمختګ، د پانګې وده، په اسانۍ سره د خامو موادو ترلاسه کول او د صنعتي تولیداتو د خرڅولو لپاره د مناسبو بازارونو موندل د استعمار د پیل له اصلي عواملو څخه ؤ.

همدې موخو ته د رسیدو لپاره په١٦١٥ز کال کې د انګلیستان د پاچا د لومړي جیمز سفیر سرتوماس رو د هند د مغولي پاچا جهانګیر دربار ته ځان ورساوه او له هغه څخه یې په شرقي هند کې د ایست انډیا کمپنۍ (د ختیځ هند شرکت) د جوړیدو امتیاز ترلاسه کړ چې د هند استعمار له همدې نیتې پیل شو.

انګرېزي کمپنۍ د امنیت په پلمه لومړی یو بلوک عسکر راوستل خو د عسکرو شمیر یې ورځ تر بلې زیاتاوه او کمپنۍ ته یې هم پراختیا ورکوله او د هند په کورنیو چارو کې یې لاس وهنه پیل کړه.

برتانیا د خپل پیاوړي سمندري ځواک په مټ وتوانیده چې د فرانسې، پرتګال او هالنډ لاسونه له هنده لنډ کړي او د هند کیلي په خپل جیب کې واچوي.

اورنګزیب په ١٧٠٧ ز کال کې ومړ او د هغه تر مړینې وروسته د هند مغلي حکومت له ګډوډۍ سره مخامخ شو. مرهټیان چې په هند کې یې

د یوه ملي دولت د جوړېدو لپاره هلې ځلې کولې، د ایرانیانو د۱۷۳۹ ز او افغانانو د ۱۷۶۱ زکلونو د جنګونو په سبب زیات وځپل شول او په هند کې یې د یوه ملي دولت د جوړېدو توان له لاسه ورکړ.

افغانانو هم د هند اداره په خپل لاس کې ونه نیوه، په نتیجه کې انګرېزان ورو، ورو د ډهلي خواته راغلل او بیا یې د پنجاب خواته لار ومونده.

# سکان او د افغانستان ختیځ ولایتونه

د احمد شاه بابا جګړو ته که په پراخ نظر وکتل شي، نو هر څه چې وشول هغه د مغلو د ورکیدو لامل وګرځیدل. د مغلو ورکېدل د نادر افشار له وخته راپیل شول چې په نتیجه کې یې په پنجاب کې ګډوډي رامنځ ته شوه، د دې ګډوډۍ له منځه نوی قوت راووت او هغه د سکانو قوت ؤ.

هغه وخت چې احمد شاه بابا د پاني پت له جګړې وروسته کابل ته راستون شو سکانو سر راپورته کړ او د پنجاب د دفاع په خاطر یې د کلکو کلاګانو جوړول پیل کړل، تر څولدې کلاګانو په استفادې په راتلونکي کې د احمد شاه بابا د لښکر په مقابل کې له پنجابه دفاع وکړي.

د احمد شاه بابا دوې وروستۍ جګړې د دې لپاره وې چې سکان مات شي او تر کنټرول لاندې راوستل شي، که څه هم سکان مات شول خو کرار نه شول، د شیر شاه سوري مشهوره کلا (روه تاس) او تر راولپنډۍ پورې یې ټولې شمالي برخې ونیولې. په ۱۷۹۳ ز کال کې چې تیمور شاه ومړ، د پنجاب ایالت د هند تر بحر پورې په درانیانو پورې تړلی ؤ او لاهور یې مرکز و، خو د کابل د واکمنو عملي واک تر اباسین پورې ؤ.

لاهور او راولپنډي تر حسن ابدال او د مرګاله تر غاښي پورې د سکانو په لاس کې ؤ، د اباسین غرب ته د سکانو د تېریدو ویره نه وه، دیره جات د افغانانو خاوره وه او د دوی حکومت پکې چلېده.

کله چې شاه زمان د کابل پاچا شو، نو دی به درباریانو هڅاوه چې د خپل

نیکه په شان په لاهور لښکر وخېږوي او د سکانو غوړونه ورتاوي کړي، خو شاه زمان پوهیده چې د ده د نیکه له وخته تر اوسه د اباسین په شاوخوا کې حالاتو ډېر تغیر موندلی دی. د ده له فکره که هلته پرلپسې عملیات موجود نه وي او یو څه قوت په لاهور کې همیشه میشت نه وي، یوازې په تګ، راتګ به کومه ګټه ترلاسه نه شي.

بیا هم شاه زمان په ۱۷۹۵ ز کال کې د خپل لښکر سره له اباسینه تیر شو او پلان یې درلود چې په حسن ابدال کې د سکانو معبدونه ونړوي او د روه تاس کلا تر محاصرې لاندې ونیسي. دا وخت شاه محمود له هرات څخه د کابل په لور خوځیدلی ؤ، نو شاه زمان په بیړه کابل ته وګرځیده. ده په ۱۷۹۷ او۱۷۹۸ز کلونو کې بیا هڅه وکړه چې په لاهور باندې خپل واک وساتي، خو د ده میرني ورور محمود چې د پارس حمایت یې له ځانه سره لاره، دی یې مجبور کړ چې په ۱۷۹۹ ز کال لاهور پریږدي. رنجیت سنګ چې یو چالاک او هوښیار سړی ؤ د شاه زمان څه نا څه اعتبار یې ځانته حاصل کړ.

شاه زمان د مجبوریت په اساس رنجیت سنګ د سک د وایسرا په حیث په لاهور کې ومانه او په ۱۸۰۰ ز کال په پنجاب کې د سکانو حکومت رامنځته شو، چې مرکز یې د لاهور ښار وه.

رنجیت سنګ له دې وروسته دېته ملا وتړله، چې په چل ول او زور سره د دوراني امپراطورۍ ختیځې سیمې خپلې کړي. په داسې حال کې چې دراني واکمنان د واک په سر له یو بل سره لاس په ګریوان ؤ. جانداد خان د اټک کلا په ۱۸۱۲ ز کال کې رنجیت سنګ ته ورتسلیم کړه، چې په دې سره فتح خان ته سخت قهر ورغی او په ۱۸۱۳ زکال د اټک شمال

ختیځ خواته د منثار په سیمه کې د فتح خان او سکانو ترمنځ جګړه پیل شوه.

فتح خان د موکمچند لخوا ماتې وخوړه او په ۱۸۱۸ زکال کې رنجیت سنګ د اټک پر لار له اباسینه تیر شو. یارمحمد خان چې د پېښور والي ؤ او منظم سرتیري یې نه درلودل له پېښوره ووت. رنجیت سنګ پېښور ته ورسید، خو ښار ته داخل نشو، ځکه پوهیده چې موقف یې کمزوری دی. په خیر اباد کې یې اټک ته مخامخ د کلا په جوړولو لاس پورې کړ، په دې سره سکانو د اټک په دواړو غاړو کې کلاوې په اختیار کې درلودې چې د سکانو بیراغونه پرې رپېدل.

رنجیت سنګ که څه هم له پېښوره په شا شو، خو په ډېرې هوښیارۍ او حوصلې د خپل مقصد په لورخوځیده.

په ۱۸۱٦ ز کال یې د ګلاب سنګ په مرسته په کشمیر باندې برید وکړ او کشمیر یې ونیوه او په دې توګه یې د اعظم خان ورو جبار خان له کشمیره ایستلو ته مجبور کړ. په دې سره پر کشمیر د درانیانو ٦٧ کلنه واکمني پای ته ورسېده. د اباسین ختیځ ته ټوله خاوره د درانیانو له اختیار ووته او سکانو د اباسین پر غاړه د افغانانو پلو ته کلکه اډه جوړه کړه.

# رنجیت سنگ او د پېښور نیول ۱۸۲۳ زکال

اعظم خان چې شاه محمود یې له کابل، غزني او کندهاره وباسه، په ۱۸۲۲ ز کال له جي سنگ سره پښور ته ورسیده او نیت یې دا ؤ چې د سکانو د خیراباد په کلا برید وکړي او په دې توگه رنجیت سنگ د اباسین پورې غاړې ته په شاه وتمبوي.

لیکن کورنیو ستونزو موقع په لاس ورنکړه او رنجیت سنگ له دې حالته گټه واخیسته او د پېښور د نیولو لپاره یې خپل قوتونه د اباسین غرب خواته راپورې ایستل او د یوسفزیو او ختټکو د شل زره کسیز لښکر په مقابل کې چې د پیر سبا او تره کی په غونډۍ کې موجود ؤ ځای پر ځای کړل.

د سکانو او قبایلي غازیانو ترمنځ لاس په لاس جگړه پیل شوه، د سکانو مشر پولاسنگ ووژل شو، جگړې دوام وموند، سکانو په پیرسبا باندې درې ځلې یرغل وکړ او په څلورم وار یې کلا ونیوله، له دې جگړې وروسته رنجیت سنگ په ۱۸۲۳ زکال پېښور ته ننوت او هلته یې هر څه له خاورو او ایرو سره برابر کړل.

انگرېز لیکوال (سر اولف کارو) په خپل کتاب (پټانز) کې لیکي، چې رنجیت سنگ تش په نامه پېښور، کوهاټ، بنو او دیره جات تر خپل حکم لاندې راوستل، خو په عمل کې د دوی واک تر پوځي چاونیو پورې محدود ؤ او د سیمې اوسیدونکو به ورسره جنگونه کول. په ۱۸۱۹ز

کال کې د رنجیت سنگ پوځونه له لاهوره د عیسی خېلو په لار بنو ته ورسیدل او ۲۷ کاله په دې سیمه کې پاتې شول.

دا ټوله موده یې له وزیرو، داوړو، بنوځیو او عیسی خېلو سره په جگړه کې تیره کړه. په ۱۸۳۲ ز کال (راجا سوچیت سنگ) او فتح خان توانا بنو ته راغلل او په خلکو یې سخت ظلمونه وکړل. د غوایي پر غوښه یې بندیز ولگاوه او که چا به غوا حلاله کړه، نو هغه ته به یې د مرگ سزا ورکوله. سوچیت سنگ د غوا د حلالولو په گناه د کوټکي د الله داد (سورانی) د سیمې څلور سوه تنه شهیدان کړل. په ۱۸۳۳زکال کې دشاه شجاع اورنجیت سنگ ترمنځ درې ماده یزتړون لاسلیک شواوددې تړون له مخې پېښوراودهغه شاو خوا سیمې رسماً سکانو ته وسپارل شوې او رنجیت سنگ ته دنده وسپارل شوه چې د کابل په نیولو کې له شاه شجاع سره مرسته وکړي. په ۱۸۳۴ زکال دسکانولوی لښکردخیر ابادځخه د پېښورپه لورروان شواوپېښورپه رسمي توگه په سکانوپورې وتړل شو.

# امیر دوست محمد خان او پېښور

شاه شجاع د کندهار په نیولو کې د امیر دوست محمد خان لخوا ناکام شو. امیردوست محمد خان لښکر تیار کړ، چې سکان وټکوي او پېښور ونیسي. امیر دوست محمد خان تر جمرود پورې ورسیده، خو د رنجیت سنګ قواوو محاصره کړ. امیردوست محمد خان چې ځان په محاصره کې ولیده که څه هم خپل قوتونه یې شاته کړل، خو د پېښور د نیولو لپاره یې هلې ځلې جاري وساتلې.

امیر دوست محمد خان په دې پوهیده چې رنجیت سنګ پېښور نه پریږدي، د رنجیت سنګ پیاوړی قوماندان په جمرود کې د کلا په جوړولو بوخت ؤ او د جلال آباد د نیولو لپاره یې خپل قوت تیاروه. امیردوست محمد خان مجبور شو چې د هري سنګ په مقابل کې د جګړې لپاره تیاری ونیسي. امیردوست محمد خان د هري سنګ سره د جګړې لپاره د خپل مشر زوی محمد اکبرخان په قوماندې په ۱۷۳۷ ز کال کې جمرود ته ښه پیاوړی پوځ ولیږه او د جمرود په کلا یې برید وکړ.

له کلاڅخه سکانو کلکه دفاع وکړه خو هغه قوت چې د پېښور څخه د کلا د خلاصون لپاره ور روان ؤ د محمد اکبرخان د قواؤ لخوا تارومار شو. هري سنګ په جګړه کې ټپي شو او بیا په هغه ځای کې مړ شو چې اوس د پېښور پوهنتون اسلامیه کالج هلته موقعیت لري. د ده د مړینې

نقطه د هري سنگ د برج په نامه یادیږي. محمداکبر خان له سکانو څخه دوه توپونه ونیول، جگړه یې وگټله خو پېښور یې ونه نیو او بېرته جلال اباد ته راستون شو.

د ۱۸۳۸ ز کال د جون په ۲۶ مه د شاه شجاع، رنجیت سنگ او دمکناټن لخوا د لاسلیک شوې معاهدې د لومړۍ مادې پر بنسټ کشمیر، اټک، پېښور، چچ، هزاره، یوسفزي، ختټک، هشنغر، میچني، کوهاټ، هنگو، خیبر، بنو، ټانک، کالا باغ، خوشحال گړ، ډېره اسماعیل خان، ډېره غازي خان او ملتان سیمې یې سکانو ته پریښودې، چې دا په سیمه کې د انگرېزانو د پالیسۍ اول گام ؤ. انگرېزان په دې پوهیدل چې د سکانو قوت مخ په زوال دی او دا سیمې به انگرېزانو ته پاتې کیږي.

د لاهور د ۱۸۳۸ زکال تړون ۱۸ مادې درلودې او مهم ټکي یې دا دي:

۱- شجاع الملک د افغانستان د ټولو تصرفاتو د ټولو حقوقو څخه په پنجاب، کشمیر او افغاني ولایتونو کې چې د سند رود په لویدیځ کې واقع دي لکه پېښور او دیره جات صرف نظر کړی دی (لاس په سر شوی دی).

۲- رنجیت سنگ وعده وکړه چې په بدل کې به د شاه شجاع سره مرسته کوي چې کابل ونیسي.

۳- د برتانیې دولت د دواړو خواو د دوست او خیر غوښتونکي په ډول متعهد شو (ذمه وار شو) چې د دواړو خواوو سره به د دوی د مرام په پوره کولو کې مرسته کوي.

# شاه شجاع ته کابل نیسي

لکه څرنگه چې پورته ذکر شول چې رنجیت سنگ به د کابل په نیولو کې له شاه شجاع سره مرسته کوي او انگرېزان به د دواړو خواوو سره د دوی د مقصد په حاصلولو کې همکار وي. انگرېزانو د ۱۸۳۸ زکال په وروستیو کې خپل فوځونه سره راغونډ کړل ترڅو د کویټې او بولان له لارې افغانستان ته داخل شي. کندهار به ونیسي او بیا به د کابل په لور حرکت وکړي او شاه شجاع به د کابل په تخت کینوي. د سکانو قوت به د شهزاده تیمور سره د پېښور په لار له خیبر درې تیر شي جلال اباد به ونیسي او بیا به د کابل په لوري حرکت پیل کړي، د همدې پلان د عملي کیدو لپاره د سکانو فوځ په ۱۸۳۹ زکال له لاهور څخه حرکت وکړ، ترڅو په لومړي قدم کې د خیبر دره تر فشار لاندې ونیسي، خو وخت ورسره یاري ونکړه.

په ۱۸۳۹ ز کال رنجیت سنگ مړ شو، د خپلو پلانونو مزه یې ونه څکله، سکان په کورنیو جنجالونو اخته شول، د افغان انگلیس لومړی جگړه (۱۸۳۹- ۱۸۴۲) ز کال پورې اوږده شوه، شاه شجاع ووژل شو، انگرېزانو شپاړس زره عسکر له لاسه ورکړل، خو یوازې برایډن په تپي حالت کې تر جلال اباده ورسیده او هلته د یوه افغان لخوا د انگرېزانو چوڼۍ ته ور ورسول شو. انگرېزان مجبور شول چې له افغانستان ووځي او په دې بریالي نشول چې له کندهاره تر کابله دفاعي کرښه جوړه کړي.

د رنجیت سنگ حکومت په وروستیو څو کالونو کې د اباسین په ښی خوا کې تر یوې محدودې سیمې رسیدلي ؤ، خو د سرحدي علاقو غرنۍ برخې د دوی له تاثیر او نفوذ څخه د باندې پاتې وې.

دوی جرائت نشو کولای چې د غرونو له لمنو پورته نورو سیمو ته ځان ورسوي او عملاً کنگرام، رزمک، سپین ووم، کورمې دره، د گومل دره، وزیرستان، تېرا، مومند، باجوړ، چترال او سوات د دوی د تصرفاتو څخه د باندې ؤ او د امیردوست محمد خان په وخت کې د افغاني دولت د قلمرو سیمې وې.

د غرنیو سیمو پښتانه د سکانو تابع نشول او تر پایه د اباسین په ښی خوا کې هوارې سیمې چې سکانو لاندې کړې وې، هلته د سکانو واقعي قدرت استقرار ونه مونده.

**دویم څپرکی**

# انگرېزان د سند په بنې خوا کې

انگرېزان له پیله هند ته په راتگ سره په دې هڅه کې ؤ، چې سکان او افغانان سره وجنگوي او بیا چې له دوی څخه ځه ورپاتې شي نو انگرېزان به یې د خپلو حریفانو له سترگو لیرې په مزه مزه له ستوني تېر کړي.

په ۱۸۴۶ زکال د انگرېز او سک د لومړي جنگ په نتیجه کې د رنجیت سنگ په لاس جوړ شوی د سکانو حکومت ټوټې ټوټې شو، کشمیر او شمالي غرنۍ سېمې ډوگرا مشر گلاب سنگ ته ورسېدې، جلندر، دواب او د سوتلیج او بنیر د سیندونو ترمنځ سېمې انگرېزانو ونیولې او د لاهور او ملتان شاوخوا سېمې د سکانو د دولت په نوم پاتې شوې.

په ۱۸۴۸ ز کال د اگینو او اندرسن وژنه په ملتان کې د جگړو سبب شوه، امیردوست محمد خان له وخت څخه په گټه اخیستنه له کابل څخه د پېښور د نیولو په نیت روان شو، پیښور یې ونیو.

امیردوست محمد خان په دې پوهیده چې د پېښور د ساتلو لپاره د یاغي سک جنرال چترسنگ ملاتړ ته ضرورت لري. امیر خپل زوی د پېښور والي مقرر کړ او دی خپله چتر سنگ ته ورغی. دوی دواړو د خیراباد په نیولو سره د پیښور په لور د سک قواوو مخه ونیوله او هغوی د چچ او

اټک په سیمو کې پاتې شول. امیردوست محمد خان خپل سپاره فوځیان د سکانو د مرستې د راجلبولو لپاره د گجرات جگړې ته چې د سکانو او انگرېزانو ترمنځ روانه وه ولیږل، خو د گجرات په جگړه کې انگرېزانو بری ترلاسه کړ، سکان مات شول او پاتې قوتونه یې په ۱۸۴۹ م کال د مارچ په ۱۴ مه نیټه په راولپنډۍ کې تسلیم شول.

د امیردوست محمد خان سرتیرو د پېښور په لور حرکت وکړ، انگرېزانو هغوی تعقیب کړل او د خیبر له درې یې تیر کړل، د انگرېزانو او سکانو دوهمه جگړه پای ته ورسیده او د سکانو پاچاهي ته هم د پای ټکی کېښودل شو.

په ۱۸۴۹ م کال د پنجاب ټولې برخې د انگرېزانو تر تصرف لاندې راغلې. هغه افغاني سیمې چې د ۱۸۳۳ م کال د تړون له مخې چې د شاه شجاع، رنجیت سنگ او انگرېزانو ترمنځ شوی و، د انگرېزانو تر واک لاندې شوې. په دې ترتیب په ۱۸۴۳ م کال کې د سند او په ۱۸۴۹ م کال د پنجاب په نیولو سره د هند د نیولو لپاره د انگرېزانو استعماري نقشه بشپړه شوه. انگرېزانو د هند اباده او زرغونه خاوره له گنگاه څخه تر سند پورې ونیوله او هغه وخت راورسید چې انگرېزان هندوستان د غوړې ډوډۍ په شان له ستوني تیر کړي.

همدې موخې ته د رسیدو لپاره انگرېزان د هند د ساتنې په منظور د اباسین په ښې خوا کې د سرحدي کرښې په لټه کې شول.

# د افغانستان او هند تر منځ د سرحدي پولې اړتیا

د افغانستان او هند خاورې د اسیا د یوه ستر او تاریخي سیند په واسطه سره جلا کیږي، چې د تاریخ په بیلا بیلو وختونو کې د افغاني او هندي ملتونو لخوا د سندهو، هندهو، اندس، سند او اباسین په نومونو نومول شوی دی. نوموړی سیند د دوو طبیعي جوړښتونو، د دوو هېوادونو، د دوو ملتونو، د دوو فرهنگونو او د دوو جلا اقلیمونو ترمنځ د بیلتون کرښه جوړوي. په یقیني توگه تراوسه تاریخ نه دي ویلي چې څه وخت د اباسین دې غاړې ته افغاني او هغې غاړې ته هندي عنصر ځای په ځای شوي دي. په ۱۸۷۳ ز کال کې روسانو افغانستان د خپلو نظامي عملیاتو څخه د باندې سیمه اعلان کړه او له ۱۸۷۲-۱۸۸۸ زکلونو کې د افغانستان د لویدیځ سرحد مهمې برخې ټاکل شوې وې.

په داسې حال کې د انگرېزانو دا ادعا چې گویا د هند د ساتنې لپاره د اباسین په ښی خوا کې د سرحدي کرښې پلټنه ضروري ده منطقي نه ښکاري. همدا علت ؤ چې د افغانستان او هند ترمنځ د مصنوعي کرښې لټون په خپله په انگرېزانو کې دوه فکري بهیرونه رامنځ ته کړل، چې یوه ته یې د ولاړ سیاست او بل ته یې د پرمختگ سیاست نومونه غوره شول. لارد لارنس او د هغه پلویان په دې اند ؤ چې د سند سورور، ژور او

چترک رود د افغانستان او هند ترمنځ ښه سرحد دی، هم لنډ دی او هم په لږ مصرف د دفاع وړ دی، خو د پرمختګ د سیاست پلویان لارډ کنګ، مجرجاکب او راوسن د افغانستان په زړه کې د ننه د مصنوعي کرښې د لټون پلویان ول.

په داسې حال کې چې ځینې نور د هند او افغانستان ترمنځ د هغې سرحدي کرښې طرفدار ؤ چې د سلیمان او قیصر غرو ترلمنې تېریده.

# د پرمختګ سیاست For ward policy

د ۱۹ مې پېړۍ په دویمې نیمایي کې په هند او لندن کې د انګرېزانو سیاسي او نظامي مامورینو خپل پام د هند او افغانستان ترمنځ د یوې پیاوړي سرحدي کرښې ټاکلو ته واړوه:

۱: د اباسین د سیند مجرا.

۲: د سلیمان او قیصر د غرو لمنې.

۳: د افغانستان په زړه کې د هندوکش مصنوعي کرښه.

د همدې مقصد د پوره کولو لپاره د انګرېزانو ترمنځ بیلا بیل فکرونه رامنځ ته شول، چې یو یې هم د پرمختګ سیاست ؤ. له همدې امله نیږدې یوه پېړۍ د انګرېزانو سره د افغانانو اړیکې ویجاړې وې او د همدې بدمرغه سیاست په نتیجه کې د افغانستان د خاورې ځینې مهمې برخې اشغال شوې او د سرحدي قبایلو مسله رامنځ ته شوه چې لا تراوسه قبایل ورونه د هغې له پایلو رنځ ګالي او نور افغانان د هغوی پر سر د غم اوښکې تویوي.

په ۱۸۵٦ م کال چې ایرانیانو د روسانو په هڅو د هرات ښار محاصره کړ د پرمختګ د سیاست د ښوونځي مبتکر جان جاکب د برتانوي هند له حکومت وغوښتل چې د کویټې ښار د نیولو لپاره اقدامات وکړي.

انگرېزان په پېښور کې د خپلو قواوو د ځای پر ځای کېدو له امله ډاډمن ول او فکر يې کاوه چې د کويټې په نيول کېدو به د خيبر د لارې په شان د بولان لار هم ډاډمنه شي.

که څه هم لاردکنگ او ځينې نور فوځي ماموران د دې سياست مخالف ؤ او ويل يې چې يو پياوړی افغانستان د هند د ساتنې عامل کېدای شي او د برتانوي هند لپاره کوم خطر نه رامنځته کوي، خو جان جاکب او د ده پلويان په دې نظر ؤ چې انگرېزان دې په کويټه او د کورمې په دره کې خپل قدرت پياوړی کړي.

همدارنگه دې د برتانوي هند اغيز د هند د قطب لويديځ سرحد په قبايلي خاوره کې قوت ومومي، د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره انگرېزانو د پرمختگ پاليسي تعقيب کړه او خپل عسکر يې د افغانستان په لور وخوځول.

# انگرېزان او د قلات خانان

د سدوزيو د قدرت پر مهال بلوچستان د افغانستان د رياست برخه حسابيدله او د قلات خانان د افغانستان تحت الحمايه ؤ. په ۱۸۳۹ زكال د برتانيې عسکر د شاه شجاع الملک په اتفاق د افغاسنتان په لور سوق شول، الكساندر برنس د هند د گورنر جنرال د پلاوي د مشر په حيث د محراب خان دربار ته واستول شو او له هغه سره يې يو قرارداد لاسليک کړ چې ځينې برخې يې دا دي:

۱: دا لوظنامه تر هغه پورې چې خان په صداقت سره د هغه مواد اجرا کوي اعتبار لري.

۲: محراب خان هر څومره چې د برتانيې له دولت سره خپله دوستي د سدوزيو د خاندان سره د اطاعت او انقياد له لارې اثبات ته ورسوي په هماغه اندازه به د برتانيې او نوموړي خان ترمنځ د دوستۍ مراتب پرمختگ وکړي او خان به وکولای شي د برتانيې په دوستۍ باور او تکيه وکړي.

د پورتنۍ لوظنامې له رامنځ ته کيدو وروسته د برتانوي هند دولت يو لږ پلمې رامنځته کړې، په قلات يې فوځ وروخيږاوه، محراب خان په جگړه کې ووژل شو او د قلات امارت د يوې بلې لوظنامې پر اساس د محراب خان زوی نصير خان ته وسپارل شو.

د نصير خان سره لواظنامه په ۱۸۴۱ ز کال لاسليک شوه چې دلته يې

ځینې اړین مواد را اخلو:

۱: میر نصیر خان هماغسې لکه د ده اجداد چې د کابل د پاچا تابع ؤ ځان او خپل اخلاف د کابل د پاچا تابع بولي.

۲: د هغې ځمکې له منځه چې د محراب خان له مرگ وروسته نیول شوې وه یانې توچي، مستنگ او شال، د هغې دوه نقطې (برخې) اعلیحضرت شجاع الملک کولای شي بې له کوم ممانعت څخه هغه اشغال کړي.

۴: میر نصیر خان د ده اخلاف او ځای ناستی به د انگرېز افسر په مشاوره هغه چې د قلات په دربار کې استوگن کیږي رفتار کوي. په دې ډول د قلات مهم امارت انگرېزانو د خو لوظنامو په ترڅ کې د افغانستان له تسلط څخه ویوست او د انگلیس دولت ځان د هغه ځای ناستی جوړ کړ او انگرېزانو د افغاني خاورې تجزیې ته دوام ورکړ. د افغانستان د شال سیمه چې د کویټې ښار او د هغه شاوخوا رانیسي او له دې مخکې محراب خان ته سپارل شوې وه، بیا د ۱۸۴۱ زکال د لوظنامې د دوهمې مادې پر اساس دوباره د مرکزي ادارې تر واک لاندې راوستل شوه.

انگرېزانو د نصیر خان له ځای ناستي خداداد خان څخه د ۱۸۷۶ –۱۸۷۹ او ۱۸۸۳ م کلونو د تړونونو په ترڅ کې د کال د ۲۵۰۰۰ زره کلدارو په مقابل کې په اجاره واخیسته.

د مومندو قبیله چې د افغان انگلیس د لومړی جگړې را پدېخوا د دوی خانانو له کابل سره مخامخ اړیکې درلودې، انگرېزانو په ۱۸۵۲ زکال مجهزه اردو د هغوي پر ضد باندې سوق کړه، د هغوی مقاومت یې مات کړ، د هغوی څو کسه په جگړه کې اسیران شول. انگرېزانو له هغوی سره

یو تړون لاسلیک کړ چې متن یې دا دی:

احمد بشیر، نورگل، مکرم، هبو، رحیمداد او د حلیمزیو اوه تنه ملکان متعهد دي چې هر کال دوه سوه روپۍ پرې کړي او د حکومت سره د اطاعت او خدمت وعده کوي او که کوم جرم پر دوی ثابت شي، د مجازات کیدو لپاره حاضر دي.

د حکومت دوستان خپل دوستان او د حکومت دښمنان خپل دوښمنان بولي. دغه تړون د پورتني مقصد لپاره ۱۸۵۲ زکال د جولای په ۱۲ لاسلیک شو.

څرگنده ده چې د برتانیې حکومت دا ډول اقدامات په هند باندې د خپلې واکمنۍ د ساتلو او د دوی په نظر یوه علمي سرحد ته د رسیدو لپاره چې د کابل، غزني او کندهار څخه تېریده ترسره کول.

افغان دولت چې د خپلې خاورې د ساتنې مسؤلیت یې درلوده د انگرېزانو ناوړه کارونو ته بې تفاوته نشو پاتې کیدای، له همدې امله د ۱۸۷۰ ز کال وروسته د افغانستان او انگلیس اړیکې خړې پړې شوې. انگرېزانو په ۱۸۷۷ زکال کویټه لاندې کړه او تر یو لړ ناکامو هلو ځلو وروسته د افغان انگلیس دویمه جگړه رامنځ ته شوه. د امیرشیرعلي خان حکومت یې راوپرځاوه، انگرېزانو یعقوب خان په تخت کېناوه او په ۱۸۷۹ ز کال د مۍ په ۲۶ مه نیټه یې د گندومک تړونورباندې لاسلیک کړ. د گندومک د تړون پر اساس انگرېزانو کورمه، خیبر او میچني تر خپل کنترول لاندې راوستل او له افغانستان څخه یې خارجي خپلواکي واخیسته.

په ۱۸۸۰ ز کال کې امیر عبدالرحمن خان د کابل پر تخت کیناست. انګرېزانو د پرمختګ د بدمرغه سیاست د اهدافو د تحقق لپاره اوه اشغالګر ترونونه اوله ۳۲ زیات جنګونه په افغانانو باندې د ۱۸۴۷-۱۸۹۳ پورې تحمیل کړل چې دلته یې په نوم باندې بسنه کوم. :

۱: په ۱۸۴۷ زکال په بایزي قبیلې باندې د انګرېزانو برید.

۲: په ۱۸۴۹ ز کال بیا په بایزي قبیلې باندې برید.

۳: په ۱۸۵۰ ز کال د کوهاټ په افریدو باندې برید.

۴: په ۱۸۵۰ ز کال په بنو باندې برید.

۵: په ۱۸۵۰ ز کال د بهادرخیلو په شاوخوا کې د انګرېزانو او مجاهدینو ترمنځ جګړه.

۶: په ۱۸۵۱ ز کال په میرانو باندې د انګرېزانو برید.

۷: په ۱۸۵۲ زکال په مومندو باندې د انګرېزانو برید.

۸: په ۱۸۵۲ ز کال د ګنبتې له لارې په وزیرستان باندې برید.

۹: په ۱۸۵۲ ز کال په مومندو باندې برید.

۱۰: په ۱۸۵۲ ز کال په راني زو باندې برید.

۱۱: په ۱۸۵۲ ز کال په اتمانخیلو باندې برید.

۱۲: په ۱۸۵۲ زکال په وزیرو باندې برید.

۱۳: په ۱۸۵۲ زکال په حسن زو باندې برید.

۱۴: په ۱۸۵۳ زکال په ادم خیلو باندې برید.

۱۵: په ۱۸۵۴ ز کال په مومندو باندې برید.

۱٦: په ۱۸۵۵ زکال په اکاخیلو باندې برید.

۱۷: په ۱۸۵۵ زکال په میرانزو باندې برید.

۱۸: په ۱۸۵۵ ز کال په خدرخیلو باندې برید.

۱۹: په ۱۸۵٦ زکال په توریو باندې برید.

۲۰: په ۱۸۵٦ زکال په یوسفزیو باندې برید.

۲۱: په ۱۸٦۰ زکال په وزیرو باندې برید.

۲۲: په ۱۸٦۴ زکال په مومندو باندې برید.

۲۳: په ۱۸٦۸ ز کال په اورکزیو باندې برید.

۲۴: په ۱۸٦۸ زکال د تور غر نومي په خلکو برید.

۲۵: په ۱۸٦۹ ز کال په اورکزیو باندې برید.

۲٦: په ۱۸۷۲ ز کال په داوړو باندې برید.

۲۷: په ۱۸۷۷ ز کال په افریدیو باندې برید.

۲۸: په ۱۸۷۸ ز کال بیا په افریدیو باندې برید.

۲۹: په ۱۸۷۸ ز کال په اتمانخیلو باندې برید.

۳۰: په ۱۸۷۸ز کال په راني زو برید.

۳۱: په ۱۸۷۸ ز کال بیا په اتمانخیلو برید.

۳۲: په ۱۸۷۸ز کال زخه خیلو باندې برید.

# امیر عبدالرحمن خان او انګرېزان

هغه وخت چې د امیر پلار محمد افضل خان د امیر شیر علي خان لخوا ونیول شو امیر عبدالراحمن خان بخارا ته وتښتېده او بیا چې په ۱۸۷۹ ز کال د امیر شیرعلي خان حکومت د انګرېزانو لخوا راوپرځید، افغان مجاهدینو د امیرعبدالرحمن خان سره اړیکه ونیوه او له ده یې وغوښتل چې وطن ته راستون شي.

امیر عبدالرحمن خان هم په بیړه خپل وطن ته راوګرځید. امیر لا په کندز کې ؤ چې انګرېزانو ورسره اړیکه ونیوله او له هغه یې پوښتنه وکړه چې د څه لپاره وطن ته راغلی دی. کله چې امیر چاریکار ته راورسید، د خلکو لخوا د افغانستان د پاچا په صفت وپیژندل شو، انګرېزانو هم ترې وغوښتل چې خپل نماینده کابل ته ورولیږي انګرېزان حاضر دي چې د پاچا په صفت یې اعلان کړي.

میر غلام محمد غبار په خپل کتاب (افغانستان در مسیر تاریخ) په ٦۴۰-٦۴۱ مخونو کې لیکي: مخکې له دې چې امیر انګرېزانو ته خپل شرایط وړاندې کړي له هغوی یې پوښتنه وکړه چې تاسې (انګرېزان) له افغانستان څخه څه غواړئ، انګرېزانو له موقع ګټه پورته کړه او د امیر په وړاندې یې درانه شرایط کېښودل. په شرایطو کې د ځینو جنوبي ولایتونو جدا کېدل، پشین او سیبي د انګرېزانو تر واک لاندې پاتې کېدل، د خارجي خپلواکي اخیستل، د کابل، جلال اباد او کندهار څخه د انګرېزانو تر

سرحد پورې د هغوی د فوځونو د امنیت تامینول او د خوراکي توکو برابرول پکې شامل ول. امیرعبدالرحمن خان د انګرېزانو ټول شرایط ومنل کابل ته یې پلاوی ورولیږه او په ۱۸۸۰ زکال د جولای په **۲۲** مه یې په شیر پور کې د انګرېزانو په نظامي مجلس کې برخه واخیسته. انګرېزانو هم امیرعبدالرحمن خان ته ددې غم لړلي سلطنت مبارکي وویله او په دې ترتیب په ۱۸۸۰ ز کال د اګست په ۱۱ مه په کابل کې ځای پر ځای شو.

میر غلام محمد غبار د خپل کتاب په **۶۴۲** مخ کې د امیر لخوا په بیړه سره د انګرېزانو د شرایطو قبلول د هغه ستره تیروتنه بولي او وایي چې په کابل کې انګلیسانو د سمالیې څخه تلګرامي خبر ترلاسه کړی ؤ چې انګلیسي فوځ د میوند په جګړه کې تباه شوی دی او په کندهار کې د انګرېزانو فوځ تر محاصرې لاندې دی. که چیرې امیر په داسې وخت کې خپل مقاومت له لاسه نه وی ورکړی نو کولای یې شول چې افغانستان د امیر شیرعلي خان حالت ته وروګرځوي په دې صورت کې به نه د افغانستان سیاسي استقلال له لاسه وتلی ؤ او نه به د هېواد درې ګونې حیاتي لارې د دښمن په لاس کې پاتې وې.

# امیرعبدالرحمن خان او د ډیورنډ کرښه

## ۱۸۹۳ ز کال د نومبر ۱۲مه

امیرعبدالرحمن خان وروسته له دې چې په ۱۸۸۰ ز کال د اگست په ۱۱ مه په کابل کې ځای پر ځای شو، د انگرېزانو د پرمختگ د سیاست ناوړه پایلې یې د سر په سترگو لیدلې وې نو هغه ژمنې چې سلطنت ته د رسیدو لپاره یې د انگرېزانو سره کړې وې له پامه وغورځولې.

ده په هغو مسایلو کې، چې د افغانستان گاونډیو پښتنو سره یې اړه درلوده په پیاوړي توگه د خپل شخصیت ځرگندونه کوله او له همدې امله امیرعبدالرحمن خان د هند د قطب لویدیځ په لویه برخه کې د مسلمانانو د امیر په توگه پیژندل کېده.

امیرعبدالرحمن خان هڅه کوله چې د هند په سرحداتو کې مسلمانان ترخپل کنترول لاندې راولي او د انگرېزانو د پرمختگ امکانات له منځه یوسي.

د انگرېزانو د پرمختگ د پالیسۍ په وړاندې د ده دریځ له دې خبرې ښه ځرگندیږي، کوم وخت چې د کوژک په غره کې د اوسپنې د کرښې د تیرولو لپاره تونل کېندل کیده، امیر ویلي ؤ چې دا تونل د هغه خنجر په شان دی چې زما په زړه کې ننه ایستل کیږي. انگرېزان هم د امیر له کړو وړ بې خبره نه ؤ، د ۱۸۳۸ او ۱۸۷۹ زکلونو د تړونونو خوند یې له یاده نه ؤ وتلی او له امیر څخه یې هم د شاه شجاع او یعقوب خان په شان د تړون

هیله درلوده.

له بلې خوا انګرېزانو د افغان انګلیس د لومړي او دویم جنګ په وخت کې د افغان ملت زور لیدلی ؤ او ورمالومه شوې وه، چې د زور له لارې د یوه ملت نیول، ساتل او د اړتیا په مهال له هغه څخه وتل څه اسانه خبره نه ده، خو د ملت پر ځای د یوه فرد ماتونه او تېر ایستنه اسانه ده.

ځکه نو انګرېزانو د فوځي دستګاه ترڅنګ دیپلوماتیکې هڅې هم پیل کړې. او په دیپلوماتیکه ساحه کې د لاسته راوړنو په خاطر یې پښتنې سیمې په ځانګړي ډول ازاد قبایل تر برید لاندې ونیول چې د بریدونو د ساحو نوملړ یې په لاندې ډول دی:

۱: په ۱۸۷۹ ز کال په زخه خېلو برید.

۲: په ۱۸۷۹ ز کال په مومندو برید.

۳: په ۱۸۷۹ ز کال بیا په مومندو برید.

۴: په ۱۸۷۹ زکال په زیمخت باندې برید.

۵: په ۱۸۸۰ زکال په مومندو برید.

٦: په ۱۸۸۰ زکال په بېټنیو برید.

۷: په ۱۸۸۰ ز کال په وزیرو برید.

۸: په ۱۸۸۱ زکال په وزیرو برید.

۹: په ۱۸۸۱ ز کال په رازمک برید.

۱۰: په ۱۸۸۷ زکال په بونیر برید.

۱۱: په ۱۸۸۷ زکال د تور غار نومي په خلکو برید.

۱۲: په ۱۸۸۹ زکال په اورکزیو برید.

۱۳: په ۱۸۸۹ ز کال بیا په اورکزیو برید.

انگرېزانو سربېره پر دې په سوات، بونیر او باجوړ کې خپل قوتونه راټول کړل او هغه وسلې او مهمات یې هم بند کړل چې امیر په اروپا کې اخیستي ؤ. انگرېزانو په عمومي توگه په سرحدي سیمو کې خپلو قواوو ته د تیارسی امر ورکړ او له امیر څخه انگرېزانو د یوه لیک په ترڅ کې وغوښتل چې رابرتس د یوې فرقې عسکرو سره په کابل کې ومني او په جلال اباد کې باید تود هرکلی ورته وویل شي. په مقابل کې امیر خپل سل زره عسکر تیارسی کړل او د کابل په سیاسنگ کې یې ځای پر ځای کړل. امیر انگرېزانو ته ولیکل، چې د رابرتس د ساتلو لپاره سل زره عسکر په کار دي.

امیر غوښتل چې انگرېزان په دې وپوهوي چې خلک د دوی دښمنان دي، نو د امیر د دې اقداماتو په نتیجه کې انگرېزان په دې پوه شول چې افغانان جدي دي، خو د دریمې جگړې د پیلولو جرات یې ونه کړ.

په داسې حال کې چې په ۱۸۷۳ زکال کې روسانو افغانستان د خپلو نظامي عملیاتو له ساحې څخه د باندې اعلان کړی وه او له ۱۸۷۲-۱۸۸۸ ز کلونو کې د افغانستان د لویدیځو سرحدونو مهمې برخې تاکل شوي وې، خو یوازې د افغانستان جنوبي سرحد چې ۱۲۰۰ میله طول یې درلود پاتې ؤ.

په داسې حال کې چې د امیر اغېز تر ډېره بریده په کې محسوس ؤ، مگر

بیا هم امیر ځان کمزوری احساساوه سره له دې چې انګرېزان په هېڅ صورت دې ته حاضر نه ؤ چې خپل قوتونه د جګړې لپاره افغانستان ته داخل کړي، نو انګرېزانو رابرتس بدل کړ او سرتیمور ډیورنډ په مشري یې یو کوچنی ۱۲ کسیزه پلاوی یې کابل ته ولیږه چې د امیر لخوا هم ومنل شو. مذاکراتو له څلوېښتو ورځوزیات وخت ونیوه، امیر نه غوښتل چې د ډیورنډ لخوا په جوړې شوې نقشې باندې لاسلیک وکړي، په داسې حال کې چې انګلیسي فوځونه د افغانستان په سرحد کې د تیارسی په حالت کې ؤ.

انګرېزي پلاوي له امیر وغوښتل چې په نقشه باندې لاسلیک وکړي او له هغې پرته به د دواړودولتونوترمنځ اړیکې پرې شي. په دې ترتیب د زور له لارې چې ځینې انګرېزان هم په دې اعتراف کوي په امیر عبدالرحمن خان باندې په ۱۸۹۳ ز کال د نومبر په ۱۲ مه د ډیورنډ لخوا پر جوړې شوې نقشې لاسلیک وشو، خو ځینې تاریخ پوهان دا نه مني چې امیر عبدالرحمن دې په نقشه باندې لاسلیک کړی وي.

امیر عبدالرحمن خان د خپل عمر تر پایه ډیورنډ کرښې ته عملاً ژمن پاتې نشو، د مخالفت باوجود، دی مجبور شو او د سرحد په نښه کولو لپاره د دواړو خواو لخوا هئیت وټاکل شو، د افغانستان ختیځ او جنوبي سرحدونه په څلورو برخو وویشل شول او هیئت په ۱۸۹۴ ز کال خپل کار پیل کړ.

لومړي هیئت له هندوکش څخه تر (نواکوتل) پورې سرحدي کرښه تحدید کړه، خو کله چې باجوړ او مومندو ته راورسېده د انګلستان حکومت د پرلپسې غوښتنو په سبب له نواکوتل څخه د کابل تر سیند او

د کابل له روده د پیواړکوتل تر ځیرمه د (سکارام) تر څوکې پورې د افغانستان ختیځ سرحد د پخوا په شان مالوم نه شو او تر اوسه هم حقیقي سرحد نه دی مشخص شوی.

دویم هیئت بریالی شو، چې په وزیرستان کې د سکارام او لړم څوکې ترمنځ سرحدي کرښه تحدید کړي، خو د لړم د څوکې څخه تر درمندي پورې چې د گومل او کندر رودونو په ساحه کې واقع دی مسترکېنګ او مستر اندرسن دوو تنو انګلیسي افسرانو په خپل سر او خوښه تعین کړ او بلیرونه یې پکې نصب کړل.

په هند کې د هغه وخت وایسرا لارد الګن د یادې کرښې نقشه په ۱۸۹۵ ز کال د سپتمبر په ۹ مه د لاسلیک لپاره امیر عبدالرحمن خان ته ولیږله. امیر د ۱۸۹٦ ز کال د مارچ په ۱۱ مه د لیک په واسطه نوموړي نقشه د ډیورنډ د لوظنامې د څلورمې مادې پر اساس د کرښې د منلو او د نقشې له لاسلیک کولو څخه ډډه وکړه.

لارد کرزن د۱۹۰۱ زکال د جون په ۲۱مه او د می په ۲۹ مه د لیکونو له لارې دوه ځلې د نقشې د لاسلیک غوښتنه تکرار کړه، خو امیر بیا هم د ۱۹۰۱ ز کال د جون په ۱۷ مه په ځوابي لیک کې د هغه غوښتنه رد کړه او سرحد ناڅرګند پاتې شو.

په ۱۹۳۸ زکال کې انګرېزانو پر موسی نیکه چې په همدې سیمه کې واقع دی د الوتکو بمبارد وکړ او د دې بمبارد له امله د افغانستان او برتانیې د دولتونو ترمنځ ډېر اعتراضي لیکونه تبادله شول. په دې لیکونو کې هغه سرحدي کرښه چې د مستر اندرسن او مستر کنګ لخوا ټاکل شوي وه

افغان دولت د ۴۵۲۳ ګڼه یاداښت چې په ۱۹۴۰ ز کال د جنوري په ۱۳ لیکل شویدی په یادو حدودو کې د برتانیې حکومت ته د خپل حق ساتنې خبرداری ورکړ او د دې سرحد مسله هم تراوسه نه ده فیصله شوې.

دریم هیئت له دومندي څخه په سیستان کې د ملک تر غره پورې سرحدي کرښه وغځوله، که څه هم په دې برخه کې نوې نقشه ترتیب شوه او نوې کرښه چې هیئت پرهغې باندې موافقې ته ورسیده له لومړنۍ نقشې سره چې د ډیورنډ د لوظنامې ضمیمه وه ستر توپیر ښیي.

په ځینو برخو کې د دې دوو کرښو توپیر د افغانستان په ګټه څلویښت میله انحراف ښیي، دویمه کرښه یوه پلنه او اوږده خاوره له ډېرو ابادیو سره لکه ساکند، ګلاچا، شاه اسمعیل او بهرام چا، چې د لومړی نقشې پر بنیاد باید د افغانستان څخه جدا شوي وای په افغانستان کې د ننه پرېښودل شوي دي.

دا مساله ثابتوي چې د ډیورنډ نقشه چې د لوظنامې ضمیمه ده په بشپړ ډول له اعتباره لویدلي ده. په ځینو برخو کې هیئتونه موافق شوي دي. دلیل یې دا دی چې د ډیورنډ له نقشې یې مخ اړولی دی او په ځینو برخو کې انګلیسي پلاوي د نقشې پر کرښه ټینګار کړی دی، په هغې باندې موافقه نه ده راغلي او سرحد نامالوم پاتې شوی دی.

# د ډیورنډ پر کرښه غبرګونونه

د ډیورنډ پر کرښه چې د امیر عبدالرحمن خان او سرمور تیمور ترمنځ په ۱۸۹۳ زکال د نومبر په ۱۲ مه په کابل کې د یو لړ اوږدواو غیر دوستانه مذاکراتو د دوام په نتیجه کې توافق وشو. ډیورنډ خو خوشحاله ؤ، خو د امیر په تندي کې هماغه د لاسلیک پر مهال د نه رضایت ګونځې بریښیدې او په عمل کې د ژوند تر پایه د توافق لیک موادو ته ژمن پاتې نه شو. انګرېز لیکوال سرفرایزر تاتیلر په خپل کتاب (افغانستان) کې لیکي: امیر د نقشې پرمخ د ډیورنډ تشریحات واوریدل خو د ځمکې پرمخ د هغې په انطباق نه دی پوهیدلی، بلکې د غرور له مخې د هغه د خولې د هو کلیمه وتلي ده، ځکه نو د ډیورنډ په لاس د جوړې شوې نقشې ډېرې برخې عملي نه شوې. د امیر نارضتوب او بې وسي له دې خبرې ډیره ښه ځرګندیږي، کله انګرېزانو د کوژک په غره کې د اوسپنې پټلۍ د تېرولو لپاره تونل کینده، امیر ویلي ؤ، چې دا تونل د هغه خنجر په شان دی چې زما په زړه ننه ایستل کیږي.

امیر د دې تونل د کېندلو په مقابل کې خپلو سرحدي چونیو ته امر ورکړ، چې په وزیرستان کې پرمختګ وکړي. امیر د سرحدي سیمو مسالې خارجي نه ګڼلې او په دې برخه کې یي ځان د کوم خارجي هیواد مقید نه باله. د امیر عبدالرحمن خان څخه راوروسته تر نن ورځې (د دې کتاب) تر لیکلو پورې ۱۵ حکومتونه په افغانستان کې یو پر بل پسې

راغلل خو له لومړیو پنځو حکومتونو راوروسته کوم افغان حکومت دا کرښه نه ده منلې، بلکې د دوو کسانو لوظنامه یې بولي.

باور دادی چې راتلونکي افغان حکومتونه به هم د تېر په شان یاده کرښه ونه مني.

په کال ۱۹۴۷ ز کې هغه وخت چې د کرښې هغې خواته پښتنو له ریفرانډم (ټولپوښتنه) سره دېرېکون پریکړه وکړه او افغان حکومت د برتانيې د حکومت د جون د دریمې نیټې د اعلان په ځواب کې په کابل او لندن کې د برتانيې حکومت ته اخطار ورکړ او د تاریخي سوابقو د یادونې او په راتلونکې کې د متصوره خطراتو سره سم یې د برتانيې حکومت ته یادونه وکړه چې مضمون یې داسې و:

په تېرو لسو کلونو کې د افغانستان حکومت په تکرار سره د برتانيې نماینده گانو ته څرگنده کړې ده، چې په هند کې د بدلونونو د رامنځته کیدو په صورت کې لازمه نه ده، چې د سرحدي ولایتونو د ملیونونو افغانانو تقدیر له بې اعتنایی سره مخامخ شي. لهذا د وروستیو بدلونونو له رامنځته کېدو سره د افغان انگلیس پخوانۍ لوظنامې او له هغوی څخه رامنځ ته شوي تکالیف د بحث لاندې ځمکو په باره کې تر دې وروسته نافذ نه بلل کیږي. (د انگلستان د بهرنیو چارو وزارت ته په لندن کې د مختار وزارت د ۱۹۴۷ ز کال د جون د ۱۳مې نیټې یاداښت).

لکه مخکې چې یادونه شوی ده، د ډیورنډ د کرښې په اړوند د انگرېزانو نظرونه هم یو شان نه ؤ او ډیر یې په دې نظر ؤ چې د سند رود د افغانستان او هندوستان ترمنځ ښه سرحد دی. لارنس د هند اعلی حاکم به په ټینگار

سره ویل چې د اباسین د ښي خوا ټولې خاورې دې افغانستان ته حواله شي. لاردکنگ او ځیني نور انګرېز مشران په دې اند ؤ چې که افغانستان پاشلی وي کمزوری کېږي او کمزوری افغانستان د برتانوي هند په ګټه نه دی. انګرېز مؤلف سرکرفرانیز تاتیلر په خپل کتاب (افغانستان) کې د ډیورنډ د کرښې په اړوند وایي، چې دا کرښه د یوه پوچ سمبول او د بې منطقه سیاست ښکارندویه ده او که هر ارزښت ورته وټاکل شي منطقي نتیجه نلري.

د ډیورنډ پر کرښه له خوابدیو هغه وخت لوی غر جوړ شو، چې د امیر عبدالرحمن خان او ډیورنډ د توافق لیک خبره د کرښې د دواړو غاړو ولسونو تر غوږونو ورسیده.

د پولې هغه خوا پښتنو په ځانګړي ډول ازادو قبایلو چې لومړی یې د سکانو او بیا یې د انګرېزانو په مقابل کې ټوپک په اوږه کړی و، خپلو سوله ییزو هڅو او مسلحانه مبارزو ته دوام ورکړ. کابل ته یې جرګې راولیږلې او له افغان حکومت یې ګیله کوله چې ګویا د پیسو په بدل کې یې پر انګرېزانو باندې خرڅ کړي دي.

دوی د ډیورنډ کرښه نه مني او افغان دولت باید ورسره مرسته وکړي، قبایلي مبارزین د خپلو ملي مشرانو هر یو: د مسعودو ملا پیونده، د هډې ملا نجم الدین، د بابړې ملا صاحب، د تیرا ملا سید اکبر، ساپي ملا صاحب، د ترنکزو حاجي صاحب، حاجي صاحب میرزاعلي خان (ایپي فقیر) تر لارښوونې لاندې د ډیورنډ د کرښې د له منځه وړلو لپاره په مبارزه پیل وکړ. انګرېزانو د کرښې په دواړو خواوو کې حق غوښتونکو ته د ټوپک په خوله ځواب ورکړ او د ۱۸۹۳- ۱۹۴۷ ز کلونو په اوږدو

کې یې له څلویښتو زیاتې جگړې په قبایلي خلکو باندې تحمیل کړي چې نوملړ یې په لاندې ډول دی:

۱: په ۱۸۹۴ زکال په وزیرو برید.

۲: په ۱۸۹۴ زکال په چترال باندې برید.

۳: په ۱۸۹۵ زکال بیا په چترال باندې برید.

۴: په ۱۸۹۵ زکال په توچي باندې برید.

۵: په ۱۸۹٦ ز کال په دته خیلو باندې برید.

٦: په ۱۸۹۷ زکال په وزیرو باندې برید.

۷: په ۱۸۹۷ ز کال په کڅه باندې برید.

۸: په ۱۸۹۷ زکال په سوات باندې برید.

۹: په ۱۸۹۷ زکال په مومندو باندې برید.

۱۰: په ۱۸۹۷ ز کال په اکوزو باندې برید.

۱۱: په ۱۸۹۷ زکال په اتمانخیلو باندې برید.

۱۲: په ۱۸۹۷ ز کال په اورکزو باندې برید.

۱۳: په ۱۸۹۷ زکال په افریدو باندې برید.

۱۴: په ۱۸۹۷ ز کال په څمکنو باندې برید.

۱۵: په ۱۸۹۷ زکال په بونیر باندې برید.

۱٦: په ۱۸۹۸ م کال په شوال باندې برید.

۱۷: په ۱۸۹۹ ز کال په څمکنو باندې برید.

۱۸: په ۱۹۰۰ زکال په وزیرو او مسیدو باندې برید.

۱۹: په ۱۹۰۱ زکال په وزیرو باندې برید.

۲۰: په ۱۹۰۸ زکال په ذخه خیلو باندې برید.

۲۱: په ۱۹۱۱ زکال د هادي خیلو وزیرو پر ضد عملیات.

۲۲: په ۱۹۱۹ زکال د افغان انگلیس درېیمه جگړه.

۲۳: په ۱۹۲۰ ز کال په مسیدو باندې عملیات.

۲۴: په ۱۹۲۲ زکال په ځلال خیلو باندې هوایي بمبارد.

۲۵: په ۱۹۲۴ ز کال په عبدلي مسیدو باندې بمبارد.

۲۶: په ۱۹۹۴ م کال په شابي خیلو باندې بمبارد.

۲۷: په ۱۹۲۵ ز کال په وام او عمر رغزي باندې بمبارد.

۲۸: په ۱۹۳۰ ز کال د پېښور په قیصه خوانۍ باندې بمبارد.

۲۹: په ۱۹۳۰ زکال په سپین تنگي باندې بمبارد.

۳۰: په ۱۹۳٦ زکال په خیسوره کې د ایپي فقیر په لښکر باندې جنگ.

۳۱: په ۱۹۳۸ زکال د دره گي په سر باندې جگړه.

۳۲: په ۱۹۳۸ ز کال په خړه باندې برید.

۳۳: په ۱۹۳۸ ز کال په بنو باندې برید.

۳۴: په ۱۹۳۹ زکال په مداخیلو او ټانک باندې برید.

۳۵: په ۱۹۴۰ زکال په وزیرو کې په گڼو سیمو باندې بمبارۍ وشوې.

۳٦: په ۱۹۴۱ زکال په شکتوی او نورو سیمو گڼې بمبارۍ وشوې.

۳۷: په ۱۹۴۲ ز کال د جولای په ۳۰ نیټه چې د ۱۳۲۱ هـ ش کال د اسد له اتمې نیټې سره سمون خوري انګرېزانو د خوست ولایت د تڼیو په سیمه کې د نریزې او ورژلې په کلیو بمونه وغورځول انګرېزان وایي چې دوی په دته خیلو کې چې د وزیرو سیمه ده او د شوال د غره سره په څو کیلومترۍ کې واقع ده یو غرنۍ کلی په نښه کړی و، چې هلته د ایپي فقیر لښکر موجود و، خو د کشاف د تیروتنې له امله الوتکو په نریزې او ورژله باندې بمونه وغورځول.

خو حقیقت دا دی چې دا وخت ایپي فقیر د نریزې په کلي کې ؤ، په اکا جومات به کیناسته او خلکو ته به یې دعا ګانې کولې. ده د انګرېزانو پر ضد خلک جهاد لپاره هڅول. په همدې ورځ ایپي فقیر لا جومات ته نه و راوتلی، چې د انګرېزانو الوتکو د نریزې په کلي باندې دوره وکړه، چې د اکا جومات پیدا کړي.

د الوتکو په لیدو د ګل غزره په نوم یوه مور چې پنځه کوچني لمسیان ورسره ؤ، په اکا جومات کې یې پناه واخیسته.

دې فکر کاوه چې ګویا الوتکې به په جومات باندې بمونه نه غورځوي خو الوتکو جومات په نښه کړ او بم یې ورباندې وغورځاوه.

په دې سره د اکا جومات، ګل غزره مور د خپلو پنځو ماشومو لمسیانو سره په شهادت ورسیدل، انګرېزانو بل بم د فقیرانو په خلوت وغورځاوه او دریم بم یې چې چاودیدلی نه ؤ په چشن پټي باندې اچولی ؤ.

که څه هم ظاهراً انګرېزان د نریزې او ورژلې بمبارد د کشاف تیروتنه بولي، خو د نریزې او دته خیلو ترمنځ د ۶۰ کیلومترو په شاوخوا کې فاصله

ده، بناً د دوی د تیروتنې خبره غلطه ده.

د یادونې وړ ده، چې د نریزې او ورژلې د بمبارد په ورځو کې انگرېزانو د وزیرو په خاوره کې پراخ عملیات درلودل چې څلویښت زره پلي پوځ او ۶۰ جنگي طيارو په کې برخه اخيستي وه. د ۱۸۹۳ زکال څخه ۱۹۴۷ زکال پورې چې پاکستان پکې جوړ شو، انگرېزانو له څلويښتو څخه زياتې جگړې په پښتنو تحميل کړې چې د کرښې دواړو خواو اوسيدونکو ته يې زيات مالي او ځاني تاوانونه واړول. له ۱۹۴۷ ز کال څخه په راوروسته موده کې بيا هم د پښتونخوا د ازادۍ غوښتنې لپاره سوله ييزې او وسلوالې مبارزې روانې وې او اوس هم د لر او بر پښتون د يووالي هڅې دوام لري.

**دریم څپرکی**

# د زور گاونډی، د غاړې غړوندی

د آسيا په جنوب کې د پاکستان په نوم هېواد د انگرېزانو لخوا په داسې حال کې رامنځ ته شو چې پوره يوه پېړۍ (۱۸۴۷- ۱۹۴۷) افغانان د خپل کور او خپل پتې په سر د انگرېزانو سره لاس په گريوان ؤ. انگرېزانو خپلو استعماري موخو ته د رسيدو لپاره د هند او افغانستان ترمنځ د پياوړي سرحدي کرښې د موندنې مسله د پلمې په توگه را دمخه کړه په داسې حال کې چې د سند رود په خپله طبعيت د افغانستان او هندوستان ترمنځ د سرحد په توگه راښکلی ؤ او د بشر تاريخ تراوسه په يقيني توگه نه پوهيږي چې د اباسين په ښي او کينه خوا کې څه وخت افغاني او هندي وگړي ځای په ځای شوي دي.

انگرېزانو له ۱۸۴۷ م کال څخه د پاکستان تر زيږون (۱۹۴۷) پورې له ۲۰۰ زياتې تحميلي جگړې او ۷ ناروا او ظالمانه تړونونه په افغانانو باندې تحميل کړل د دې ناروا جگړو او تړونونو په نتيجه کې افغانانو د اباسين په ښي او کينه خوا کې زياتې ځمکې د لاسه ورکړې چې لا تراوسه د خپل اصلي وجود سره نه دي وصل شوي او افغانان د دې ټوټو د پيوند کيدو لپاره سرگردانه گرځي.

په ۱۹۴۷ م کال چې کله د هند د ویش اعلان د برتانوي هند د وایسرای مونټ بټن لخوا وشو افغانان خوشحاله ؤ چې انګرېزان به د اباسین په ښي او کینه خوا کې په زور نیول شوي ځمکې خپلو حقدارانو ته وسپاري خو داسې ونشول انګرېزانو پر هغه ځمکه چې له سکانو او افغانانو څخه یې په زور لاندې کړي وې د پاکستان په نوم د یوه نوي هیواد د بنسټ ډبره کېښوده چې د خپل زېږون له وخته تر دې دمه د خپلو ګاونډیانو او په دې وروستیو کې خو د نړیوالې ټولنې د غاړې غړوندی ګرځیدلای دی.

د پاکستان د زېږون سره د پولې په دواړو خواو کې افغانانو او د وخت افغان دولت ته دا پته ولګیده چې انګرېزان خپلو استعماري موخو ته دوام ورکوي او د پښتنو پر حقوقو د پخوا په شان سترګې پټوي، افغان دولت د انګرېزانو په وړاندې توند غبرګون وښود او د افغان دولت او برتانوي هند ترمنځ یې په کابل او لندن کې انګرېزي سفارت ته په رسمي توګه د ټولو لوظنامو د لغوه کېدو خبر ورکړ. د ډیورنډ د کرښې هغې خواته پښتنو د خپل راتلونکي لپاره په بنو کې یوه لویه غونډه راوبلله په دې غونډه کې د آزاد پښتونستان پر مشرانو سربېره د خدایي خدمتګارانو، انجمن وطن، زلمی پښتون او جمعیت علمای سرحد ګډون درلود، په غونډه کې د هند د لویې وچې د ویش او د ډیورنډ د کرښې او اباسین ترمنځ د اوسېدونکو پښتنو په اړوند د انګرېزانو بې انصافه فیصله د پښتنو سره د هندوانو د ګانګرس ګوند بې وفایي او د مسلم لیګ ګوند په لاس د پښتنو د راتلونکي ټاکل ټولې هغه موضوع ګانې وې چې په غونډه کې تر غور لاندې ونیول شوې. پښتنو د حالاتو د هر اړخیزې آرزونې وروسته پریکړه

وکړه چې پښتانه نه پاکستان غواړي او نه هندوستان، پښتانه د پښتون قوم لپاره خپلواک دولت غواړي چې د اسلامي مقدساتو پر بنیاد ولاړه دیموکراسي به یې قانون وي، د جرګې ګډونوالو په محکوم او آزاد پښتونستان کې په سوله ایزو لاریونونو او غونډو په جوړولو پیل وکړ کابل ته یې هم څو ځله جرګې ولیږلې افغان دولت د مرستو ژمنه ورسره وکړه په جلال اباد او پکتیا کې د دوي پر ملاتړ غونډې وشوې، پاکستاني واکمنو چې ځمکنی فوځ یې کمزوری ؤ د پښتنو په سولیزو غونډو او لاریونونو بمباری پیل کړې چې تر نن ورځې پورې دوام لري، زما په اند د پاکستان د زیږون وړاندې د انګرېزانو، افغان دولت او لرو پښتنو مشرانو سره داسې پوښتنې موجودې وې چې حل یې ممکن ؤ خو هغوی ورته د حل لاره ونه مونده.

**۱: د پاکستان د جوړښت مسئله:**

انګرېزان په دې ځمکه چې نن ورځ پاکستان پرې آباد شوی دی یو اشغالګر قوت ؤ چې هیڅ ډول قانوني مالکیت یې نه درلود، د سند رود د هغې خوا ځمکې یې د ۱۸۴۶- ۱۸۴۹ جنګونو په نتیجه کې یې له سکانو ونیولې.

د هند د نیمې وچې د آزادۍ لپاره خو ازادي غوښتونکو غورځنګونو اوږدې هلې ځلې وکړې خو د پاکستان د جوړېدو طرحه د کیمبرج پوهنتون شاګرد رحمت علي په زړه کې د ۱۹۳۰ ز کال را پدیخوا ګرځیده په داسې حال کې چې هغه تر ډېره بریده د اسلامي اصولو پابند نه ؤ،

الکول به یې څښل د ورځې به یې لږ تر لږه ۵۰ دانې سګرټ څکول د لندن د مالدارو خلکو په سېمه کې یې اوه (۷ اپارتمانونه درلودل د انګرېزانو د امپراطورۍ په دننه کې یې د ښو لباسونو په اغوستلو شهرت درلود.

انګرېزان چې یو وخت یې په مستعمیره کې لمر نه ډوبیده د خپل استعماري حصلت له مخې لومړی تر استعمار لاندې هېوادونه لوټل او د هغوی د پرېښودلو پر مهال به یې داسې غمونه تر شا ورته پرېښودل چې په سلګونه کاله وروسته به هم هغوی د ښې ورځې مخ نه لیده او د ناحوالو سره به لاس په ګرېوان ؤ. د پاکستان د رامنځ ته کیدو لپاره د رحمت علي هلو ځلو ته هم ځکه د شک په سترګه کتل کیږي چې ګویا انګرېزانو به ورته اشاره کړي وي او که داسې نه وي نو د افغانستان او هندوستان ترمنځ د دریم هېواد د رامنځ ته کیدو لپاره هیڅ راز منطقي دلیل وجود نه لري.

د اباسین په ښي خوا کې د ډیورنډ تر جبري کرښې پورې ځمکې چې پاکستان یې اوس د مالکیت ادعا لري هغه ځمکې دي چې افغانان له هماغه وخته لومړی د سکانو او بیا د انګرېزانو او په دې راوروسته کې د پاکستاني جنرالانو سره لا تراوسه لاس په ګرېوان دي، روڼ اندي افغانان وایي چې د ډیورنډ او امیر عبدالرحمن خان تر منځ توافق لیک د دوو تنو ترمنځ معامله ده په امیر عبدالرحمن خان کرښه جبري تحمیل شوې ده، انګرېزانو هندوستان اشغال کړی وه اشغالګر قوتونه د اشغال شویو هیوادونو د سرحدونو د ټاکلو قانوني صلاحیت نلري، ډیورنډ د یوه اشغالګر دولت استازی ؤ چې امیر عبدالرحمن ته را استول شوی ؤ. امیر عبدالرحمن خان خارجي خپلواکي نه درلوده او داسې نور ډیر موازین

او مقرارات شته چې د ډیورنډ او امیر ترمنځ د توافق لیک غیر قانونیت تصدیق کوي که چیرې انگرېزان وايي چې د آسیاه په جنوب کې موږ د پاکستان په نوم هیواد د مسلمانانو لپاره رامنځ ته کړی دی نو د سلو ملیونو په شاوخوا کې خو هماغه وخت مسلمانان په هندوستان کې پاتې شول او همدا اوس له ۸- ۹ ملیونو پورې عیسویان او نور غیر مسلمانان چې په پاکستان کې اوسیږي له کومه شول.

د برتانیې دولت په ځینو رسمي خبرتیاوو کې دا هم ویلي دي چې له هند څخه تر وتلو وروسته موږ خپل میراث پاکستان ته ور پریښودلی دی او دا هم زیاتوي چې د اباسین په ښي خوا کې هوارې ځمکې انگرېزانو له سکانو څخه نیولي وې او د هندوستان نه د وتلو په وخت موږ سکانو ته ورپریښودې زما له انده (د دې کتاب لیکوال) میراث هغه مال ته ویل کیږي چې له مړي څخه د هغه وارث ته پاتې شي خو په دې شرط چې له مړي نه پاتې شوی مال حرام نه وي په داسې حال کې چې په کوم مال باندې د چا قانوني ملکیت ثابت نه وي هغه مال له مړي څخه ژوندیو ته ورپاتې شي بیا هم قانوني اعتبار نه لري، ځکه چې حرام دی باید خپل اصلي مالک ته وسپارل شي.

د انگرېزانو دا ادعا چې د اباسین په ښي خوا کې د غرو تر لمنې پورې ځمکې د سکانو څخه موږ ته په میراث راپاتې دي له سره د منلو نه ده لومړی دا چې افغانانو او سکانو ترمنځ کوم سرحد وجود نه درلود په کشمیر، ملتان، او پیښاور کې د افغانانو او سکانو ترمنځ جنگونه روان ؤ په جمرود کې د هري سنگ زخمي کیدل او مړینه دا تاییدوي چې د سکانو او افغانانو ترمنځ د اباسین په دواړو غاړو کې جگړې روانې وې په

جګړه کې وړاندې او شاته تګ موجود وي او هغه ځمکه چې د جګړې پرمحال د چا د لاسه ووزي او یا د چا لاس ته ورشي د سرحد معنی نه لري که چیرې انګرېزان د ذکر شوي مورد په هکله د ۱۸۳۸ م کال د لاهور تړون چې د فراري شاه شجاع، رنجیت سنګ او د انګرېز نماینده ترمنځ لاسلیک شوی ؤ یادونه کوي نو په دې وخت کې خو امیردوست محمد خان د کابل په تخت ناست ؤ د پېښور د نیولو لپاره د فوځ سره یو ځای پیښور ته ورغی د سکانو سره یې په جمرود کې جګړه وکړه اعظم خان په کشمیر کې د سکانو سره په جګړه بوخت ؤ په داسې حال کې چې امیردوست محمد خان له خپل قلمرو څخه په مېړانه په دفاع کولو بوخت ؤ له فراري شاه شجاع سره په لاهور کې د تړون امضاء کولو ته څوک هم قانوني جواز نشي موندلای بیا هم که چیرې د مجبوریت یا په سیمه کې د امن د ټینګښت لپاره د انګرېزانو سره دا خبره ومنو نو د سلیمان او قیصر د غرو تر لمنو را دې خواته د یوې لویشتې د راتیریدو حق څوک نه لري په داسې حال کې چې پاکستان د تروریستانو د مخنیوي په خاطر د ډیورنډ پر کرښه اغزن تار غزوي پکار ده چې انګرېزان خپل میراث خور ته ووایي چې د خپلې برېستنې سره سمې پښې وغزوي.

د ډیورنډ تر کرښې هغې خواته د اباسین تر غاړې د پرتو ځمکو او خلکو پر سر د جګړو او ناخوالو په موجودیت کې د لرو پښتنو او بلوڅو ځینې مشران او د افغانستان د ارګ حاکمان د ښښې وړ نه دي خپلې تاریخي تیروتنې باید ومني او له تکرار څخه یې ډډه وشي په سیمه کې د انګرېزي استعمار په مقابل کې د افغانانو یواځې ځاني تلفات له سلګونو زرو اوړي که څه هم دقیق ارقام په دې برخه کې نشته.

بنګالیانو قرباني ورکړه مګر خپل حقوق یې تر لاسه کړل په یقین سره چې انګرېزان د هند څخه د تګ پر وخت په دې هڅه کې نه وو چې دلته بیا د افغانانو سره لاس په ګریوان پاتې شي او نه پنجاب د دې توان درلود چې پر پښتنو او بلوڅو باندې خپل حاکمیت ومني خو د وخت د لرو پښتانو ځینې مشرانو او دوخت افغان دولت لکه څنګه چې لازمه وه له وخت څخه ګټه پورته نکړه د دې پر ځای چې د لوی افغانستان څخه دفاع وکړي د پښتونستان مسئله یې رامنځ ته کړه چې بیل بیل تعریفونه یې درلودل، په پېښور کې د پښتونستان تعریف داسې ؤ چې کابل حکومت په اخلاص سره زموږ ملاتړ نکوي نو ښه دا ده چې د پښتانو حقوق په یو موټي هندوستان او راوروسته په پاکستان کې وغوښتل شي چې اخر دا خبره د پاکستان صدراعظم لیاقت علي خان مخې ته پر میز کیښودل شوه، دلته په کابل کې د پښتونستان تعریف داسې ؤ چې لر پښتانه په پاکستان کې د ننه خپل حقوق غواړي پر موږ یې اخلاقي ملاتړ فرض دی او دهمدې اخلاقي ملاتړ لپاره کابل حکومت پاکستان ته نجیب الله خان ورولیږه د پاکستاني مشرانو سره له کتنې وروسته کابل ته راستون شو او د پښتونستان دآزادۍ نغره په پښتونستان واټ کې د ازادۍ په اتڼونو پورې محدوده پاتې شوه که څه هم افغان حکومت په هغه وخت کې د پاکستان په جوړښت کې د انګرېزانو په بې انصافۍ توند غبرګون وښود او لرو پښتانو ته یې د مرستې لاس ور وغزوه خو وروسته یې اور په ایرو سره پټ کړ چې تر دې دمه د ملیونونو انسانانو پښې پرې وسوځېدې او لا دوام لري زما له نظره دا اوس هم سر وخت دی چې نړیواله ټولنه، افغان دولت او د پاکستان نظامي واکداران د افغانانو په وړاندې خپل مسولیتونه ترسره

کړي. که چیرې د سند رود د هغې خواته په هغه وخت یا اوس وخت کې پاکستان جوړ شوی وای او یا اوس جوړ شي افغانان ورسره کومه ستونزه نه لري دا چې د ډیورنډ د پولې هغې خواته ولسونه د ترهگرو په پټن ځایونو او روزنه ځورول کیږي ښه دا ده چې د پټن ځایونو د لټون پر ځای د ترهگرو د زیږون پر ځای فکر وشي کله چې د زیږون ځای له منځه ولاړ شي د ترهگرو د لټون لپاره څه ضرورت نه پاتې کیږي او که دا کرښه په خپل ځای پاتې وي نو لکه چې د تیرو ۱۲۵ کالونو په موده کې د انگرېزانو، افغانانو او پاکستانیانو ترمنځ حالات خړ پړ ؤ همداسې به پاتې وي او د آسیا په جنوب کې به د یوه تباه کوونکي جنگ خطر موجود وي.

# حاجي میرزا علي خان (ایپي فقیر)

حاجي میرزاعلي خان د ارسلا خان وزیر زوی چې د نسب لړۍ یې د وزیرو نیکه موسی درویش ته رسیږي په ۱۹۰۱ ز کال د شمالي وزیرستان د کجوري په کلي کې زیږدلی دی او په ۱۹٦۰ز کال د اپریل په ۱٦ نیټه یې له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړي دي.

ایپي فقیر په مروج ډول خپلې لومړنۍ زده کړې په خپل کلي کې له پلار او نورو ملایانو وکړې او بیا د خوست، کوهاټ، پېښور او جلال اباد په دیني مدرسو کې په خانقاو وګرځیده په چار باغ کې د نقیب صاحب مرید شو، بیا یې هلته د قاضي حیات الدین له لور سره واده وکړ. له هغه وروسته په وزیرستان کې خپل اصلي کلي ته راستون شو او د داوړو خلکو په غوښتنه یې د ایپي په کلي کې واړول او د ایپي فقیر په نوم مشهور شو.

ایپي فقیر به بنو کې د (اسلام بي بي) پر پېښه او د انګرېزانو د تیري او تجاوز د سیاست له امله زیات خواشینی ؤ، نو ځکه په ۱۳۱۴ هـ ل کال یې د انګرېزانو په مقابل کې عملاً وسله په اوږه کړه او لومړنۍ غزا یې د انګرېزانو سره د خیسوره په مقام باندې وه چې انګرېزانو ته په کې درانده تلفات واوښتل.

ایپي فقیر له انګرېزانو سره له سلو زیاتې غزا ګانې وکړې او د عمر تر اخره په اسلام، پښتنو او د لوی افغانستان پر داعیې ولاړ پاتې شو. د ایپي فقیر له انده د افغانستان ختیځ سرحد هماغه د آباسین تر غاړې رسیده او د پښتنو حقوق یې تر اخیره په ډهلي او اسلام اباد پورې غوټه نکړل.

د پښتنو ټول وتلي څېړونکي په دې نظر دي چې ايپي فقير کومه وسله د انگرېزانو پر ضد راپورته کړې وه د پاکستان پر ضد يې هم له اورېږ ښکته نکړه ځکه چې ايپي فقير پاکستان د برتانيې پاتې شونی او جناح يې د هغوی مستقيم ايجنټ باله.

ايپي فقير د ټولو فشارونو باوجود چې په لومړيو کې د انگرېزانو او بيا د پاکستاني واکدارانو لخوا پر ده وارد شول په خپل اسلاميت او افغانيت باندې ولاړ پاتې شو او د عمر تر اخيره عملاً په دې حقيقت ټينگ ؤ، چې د سند رود غاړه د افغانستان طبعي سرحد دی. د ډيورنډ کرښه ٦٠ گزه ده چې ٣٥ گزه په تورخم او ٢٥ گزه په سپين بولدک کې واقع ده او د همدې مقصد د لاسته راوړلو لپاره يې پر سياسي هلوځلو سربيره د انگرېزانو پر ضد ١٠۴ لويې او کوچنۍ حملې ترسره کړې.

روح دې ښاد وي

## د گورويک تحريک او د بنو جرگه

د پاکستان له زېږون د مخه حاجي ميرزاعلي خان د انگرېزانو سره په عملي جهاد بوخت ؤ، د اسلام، وطن او پښتون په نامه يې ټوپک په اوږه ايښی ؤ.

په ١٩۴٧ ز کال چې کله د انگرېزانو له خوا د هند د وېش اعلان وشو د ډيورند د تورې کرښې هغې خوا ته پښتانه په دې پوی شول چې مجبوراً به په پاکستان او هندوستان کې يو د ځان لپاره خوښوي، ځکه چې د انگرېزانو سره دريمه لار وجود نه لري. د دريمې لارې د موندلو لپاره د لرو پښتنو روحاني مشرانو د محکوم مرکزي پښتونستان د قانون جوړونکي اسمبلې وکيلانو، خدايي خدمتگارانو، انجمن وطن، جمعيت

علماسرحد، زلمی پښتون او د آزاد پښتونستان د نماینده گانو په گډون بنو کې، په ۱۹۴۷ ز کال د جون په ۲۱ مه نېټه یوه لویه غونډه وکړه.

له اوږدو بحثونو وروسته جرگې پریکړه وکړه چې پښتانه نه هندوستان غواړي او نه پاکستان. پښتانه د پښتونستان په نوم د جلا هېواد غوښتونکي دي چې قانون به یې د اسلامي مقدساتو په رڼا کې پر ولسواکۍ مبني وي.

جرگې پاکستان ته گوتڅنډنه وکړه چې د پښتنو د خپلواکۍ حق ومني او که داسې ونه شي نو بیا به پښتانه له هرې ممکنې لارې کار واخلي او خپل حق به ترلاسه کړي. جرگې ته زلمي پښتون ډاډ ورکړ چې ۲۵۰۰۰ ټوپکوال لري او هر وخت چې ضرورت شي نو خپلې تورې به له تکې (چړتون) راوباسي او د تیري کونکو سرونه به پرې غوڅ کړي. د پښتونستان غورځنگ چې مشرتوب یې د حاجي میرزاعلي خان په غاړه ؤ د بنو د جرگې د قرارداد د تطبیق لپاره هر اړخیزې هلې ځلې پیل کړې، په ټولو پښتنو غږ وشو چې په سر او مال د پښتنو د خپلواکۍ لپاره هلې ځلې وکړي. د کابل د حکومت د مرستې د راجلبولو لپاره یې څو ځلې کابل ته جرگې ولیږلې او په هر لورې پښتنو سوله ییزې راټولیدنې پیل کړې، پاکستاني ریاست د دې غونډو او راټولیدنو په بدل کې د هوایي ځواک په واسطه توند غبرگون وښود، په زرگونو پښتانه یې شهیدان او ټپیان کړل او په سلگونو یې بندیخانو ته واچول خو پښتنو د دې ټولو قربانیو باوجود خپلواک دولت تر لاسه نکړ.

د هند پر کانگرس د پاچاه خان له حده زیاته تکیه، د کابل په ځای د لاهور په لور د پښتنو د مخ اړونې هڅې، د لر پښتون د جغرافیوي او سیاسي برخه لیک په اړوند د وخت د افغان حکومت کمزوری دریځ، د

پښتونستان د ازادي غوښتونکو پر وړاندې د پاکستاني رياست هر اړخيز توند غبرگون په ټوله کې په محکوم پښتونستان کې د ازادۍ غوښتنې هلې ځلې کمزوري کړې او د پښتونستان غورځنگ په قبايلي سيمو پورې محدود پاتې شو. ايپي فقير هغه ټوپک چې د انگرېزانو پر ضد يې په اوږه کړی وه له اوږې ښکته نه کړ او په ۱۹۴۷ زکال په اکتوبر کې او په ۱۹۴۸ زکال په مارچ کې يې کابل ته دوه ځلې خپل پلاوي واستول او په گورويک کې يې د پښتونستان د ازادۍ لپاره عملي هلې ځلې پيل کړې. د گورويک غورځنگ په زرگونو کسان ځانته ور جذب کړل خو د پاکستان د هوايي فوځ لخوا چې هغه وخت يې انگرېزي جنرال گريسي قوماندان ؤ د گورويک تحريک له سخت مقاومت سره مخامخ شو.

## څلورم څپرکی

# مغلگی د تاریخ په څنډه کې

**مغل، مغلگاه، مغل مېله، مغلگی:**

مغل د مغلستان اوسیدونکي د یوه داسې ظالم قوم نوم دی چې د نوم په اخیستو سره یې د هر انسان په ذهن کې د نهایت وېرې تصور پیدا کیږي. دې قوم د خپلې امپراطورۍ د پراخولو لپاره پر نورو ملکونو سربیره خپل وحشي فوځ په ۱۲۲۱ ز کال پر افغانستان راوخیژوه او د افغانستان ښکلي او مشهور ښارونه: بلخ، تالقان، جوزجان، فاریاب، بامیان، هرات، پروان، غزني او ځینې نور ښارونه یې لوټې لوټې کړل او پدې توگه یې انسانان او حیوانات له تیغه تیر کړل.

چنگیز خان په ۱۲۴۱ ز کال په لاهور، په ۱۲۴۵ ز کال په سند او ملتان په ۱۲۴۸ ز کال په ملتان او لاهور باندې حملې وکړې، افغانانو او هندوانو ته یې درانه مالي او ځاني تاوانونه واړول.

تاریخ د مغلي پیر په تړاو وایي: چې ظهرالدین بابر وزیرستان ته د پېښور او بیا د کوهاټ او بنو او همدا راز د غزني د گومل له لارې راغلی وو او بیاد کوهاټ او بنو له لارې غزني ته تللی، همدا رنگه د مغلو ځینې واکمنان د قبایلي سیمې داوړو او خوست له لارې غزني او بیا کابل ته تللي دي.

د خوست ولایت د سپیرې ولسوالۍ د سورکاخ په غره کې داسې لار شته چې خلک یې تراوسه هم د مغلو د لارې په نوم یادوي، دا لار د سپلگین له کنډو څخه د ختیځ پر لور د تڼیو قوم له غره څخه تیریږي تر مغلگي پورې رسیږي او بیا مغلگی د شمالي وزیرستان د میرانشاه له ښار سره نښلوي.

د خوست ځینې د پاخه عمر سپین ږیري وایي چې یو وخت به مغل دلته تم کیدل نو د مغلگي نوم له مغلگاه څخه اخیستل شوی دی همدارنگه که څوک له ځانه زیاته غوصه او یا ویره وښیي نو هغه بل کس ورته وایي چې په: (کور دې څه مغل ختلی دی) د خوست قومونه په عامه محاوره کې د مغل نوم د ترس، ویرې او بربادۍ په مانا سره کاروي.

د خوست خلک مغلگی د مغل مېلې په نوم هم یادوي، خوست میشتي مېله داسې ځای ته وایي چې د اصلي ابادۍ څخه لرې وي، خو ښه هوا، رواني اوبه او د څارویو لپاره شنه واښه ولري، مالداران د هوا په بدلون سره په لنډمهاله توگه هلته کډې اړوي او کله چې هوا سړه شي نو بیا خپل اصلي کلو ته ورگرځي.

کله چې مغلگی له نیږدې وکتل شی نو ټول هغه اوصاف چې د یوې میلې

لپاره ضروري دي هلته موجود دي. د خوست د گربزو د قوم مالداره خلک اوس هم د گرمۍ په وخت کې هلته کډه کيږي ممکن مغلو به هم له همدې امله د لښکرو د تم کيدو لپاره کار ترې اخيستی وي، د مغلگي سيمه سربيره پر دې چې د مېلې لپاره مناسب دی، د خوست او شمالي وزيرستان ترمنځ د لوړ اقتصادي او پوځي ارزښت څخه هم برخمنه ده.

# د مغلگي اقتصادي او نظامي اهمیت

مغلگی د گربزو ولسوالۍ په جنوب غرب کې د یوې داسې سیمې نوم دی چې په منځ کې یې هواره او شاوخوا ته یې په لږ لوړوالي سره غرونه پراته دي. مغلگی د خوست ولایت له مرکز څخه د ۲۵ کیلومترو په شاوخوا کې فاصله لري، د گربزو د قوم سپین ږیري وايي چې د مغلگي په هواره برخه کې یو وخت د اوبو چینې موجودې وې مالدارانو به د اوړي په وخت کې دې چینو ته په نیږدې فاصله کې خیمې درولې او له دې چینو به یې د خپلو مالونو د اوبو کولو لپاره گټه اخیستله، د مغلگي د سیمې شاوخوا غرونه یو وخت په ځنگلي ونو پوښلي وو چې د وخت په تیریدو هغه ونې له منځه تللي دي، دا وخت د غرونو ونې نشته او د اوبو چینې هم وچې شوي دي او مغلگي ته اوس هغه ښایست نه دی ورپاتې چې پخوا وخت یې درلوده. د مغلگي په هواره برخه کې یوه لویه هدیره موجوده ده چې خلک یې د مغلگي د شهیدانو د هدیرې په نوم یادوي، او په دې لاره چې څوک تیریږي د شهیدانو پاک روح ته دوعا کوي، که چیرې په مغلگي کې هماغه د اوبو چینې او په شاوخوا کې یې په ونو پوښلي غرونه موجود وای نو ښېشکه چې د گربزو په غره کې د مېلې لپاره له دې نه ښه ځای بل نشته.

د خوست ولایت له ډیر پخوا وخت څخه د شمالي وزیرستان سره د غلام خان او لژې په نوم دوه مهمې لارې درلودې چې د لژې لار د مغلگي له

غرب او د غلام خان لار د مغلگي له شرق څخه تیریږي، که چیرې په مغلگي باندې فوځي قوت موجود وي نو د لژې او غلام خان لارې په آسانۍ سره تر تهدید او حمایت لاندې راوستلای شي. پخوا به له دې دوو لارو د اوښانو قطارونه د شمالي وزیرستان د میرانشاه ښار ته په چتراشو بار تیریدل او له هغه ځای نه به یې خوراکي توکي خوست ولایت ته راوړل، په اوسني وخت کې د لژې لارې پخوانی اهمیت د لاسه ورکړی ځکه چې له غزنۍ برخې څخه تیریږي او د غلام خان لار په سړک باندې اوښتي ده چې په دې وروستیو کې په پاخه ډول د دولت لخوا جوړ شوی دی او هیله دا ده چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د حالاتو په ښه والي سره به دا لار په ترانزیتي لارې واوړي.

## پاکستان او مغلگی:

محراب خان گربز د یوې پوښتنې په ځواب کې راته وویل چې خونیاخیل مسید زما تره وکیل محمد خان ته راغی زموږ نه یې په پټه یو څه خبره ورته وکړه بیا دواړه نصرالله خان ته چې دا وخت په خوست کې د مېشت فوځ قومندان ؤ ورغلل د نصرالله خان سره له ملاقات وروسته کلي ته راغلل، د گربزو د قوم اربکي یې راوغوښتل او هغوی ته یې وویل چې تاسې همدااوس د مغلگي په لور حرکت وکړئ هلته په حاکمو نقاطو باندې اور بل کړی ترڅو نصرالله خان ډاډه شي چې د گربزو قوم د مغلگي ساحه نیولي ده، اربکیانو دا کار وکړ پر سبا د خوست د مرکز د متون په ساحه کې د خوست مرکز ته نیږدې پراته قومونه یوځای شول ډولونه یې وهل اتڼونه یې کول د خوست له مرکز څخه د لژې په لار تر

ژور پورې ورسیدل او بیا د مغلگي په لور راوگرځېدل هلته یې خیمې ودرولې ډوډۍ د دولت لخوا ورکول کیده.

د خوست د غرو قومونه د راتگ په حال کې وو هغه وخت د ولس په کچه د خبرتیا وسایل په نشت حساب وو د راټولیدنې په دریمه ورځ د پاکستان الوتکې راغلې په داسې حال کې چې ځوانانو د مغلگي په هواره کې اتڼ کاوه الوتکو په اتڼ بمونه وغورځول زیات شمیر خوستوال یې شهیدان او ټپیان کړل، خلک د شهیدانو او ټپیانو په لیږدونه بوخت شول او د خلکو راټولیدنه هم پای ته ورسیده، محراب خان راته وویل چې زما تره ولي محمد خان د مغلگي تر جگړې وروسته کور ته راغی نو په مغلگي د ټولیدنې مقصد یې راته داسې بیان کړ: افغان او پاکستاني کمیشنران په پټه اخته ؤ چې د مغلگي په سیمه کې د ډیورنډ کرښې نقشه په ځمکه تطبیق کړي بیا د غرب په لور د تڼیو او وزیرو قومونو ترمنځ کرښې ته امتداد ورکوي او کیدای شي چې تر برمل پورې یې ورسوي، کمیشنرانو هڅه کوله چې د مغلگي له هوارې څخه د شمال خواته پر غره باندې د ډیورنډ د کرښې نقشه تطبیق کړي هواره به پاکستان ته پاتې شي، پاکستان غواړي دلته سرحدي تانه جوړه کړي د لڅې او غلام خان لار چې په شمالي وزیرستان کې د ایپي فقیر د جنگیالیو سره له دې لارې مرسته کیږي د هغوی پرمخ به وتړل شي. نصرالله خان وویل چې اوس ناوخت دی د نورو قومونو راټولول امکان نه لري تاسې د گربزو قوم مغلگي ته نږدې یاست همدا نن تر ماسخوتن هلته ځانونه ورسوئ او سبا به موږ نور قومونه هم راټول کړو او ستاسې مرستې ته به یې درولیږو په هغه ساحه کې هیڅوک د سرحد معلومولو ته مه پریږدئ او که څوک مو

ولیدل ژوندی یې ونیسئ او یا یې له منځه یوسئ د اوس وخت لپاره د شمال له خوا په شمالي وزیرستان کې د ایپي فقیر د لښکرو امن تامین کړی او که هغوی د محکوم پښتونستان د آزادۍ لپاره په هر لوري وخوځېدل تاسې کولای شئ له هغوی سره مرسته وکړئ. پاکستاني الوتکو په ۱۳۲۸ هـ ش کال د جوزا په ۲۲ نیټه چې د ۱۹۴۹ م د جون د میاشتې له ۱۲ نیټې سره برابره ده د افغانستان په قلمرو کې دننه په مغلگي باندې بمونه وغورځول په داسې حال کې چې له دې وروسته او وړاندې د پاکستاني ریاست لخوا د آزادو قبائیلو او په محکوم پښتونستان کې د پښتنو د حق غوښتنې په سولیزو غونډو باندې بمباریو دوام درلود.

پاکستاني ریاست په ۱۳۲۷ هـ ش کال د سرطان په ۸ نیټه په داوړو بمبارد وکړ.

په ۱۳۲۷ هـ ش کال د سرطان په ۱۲ نیټه په خدرخیلو بمبارد وشو.

په ۱۳۲۷ هـ ش کال د دلوې په ۱۲ نیټه په ملک اژدر زیارت باندې یې بمونه وغورځول.

په ۱۳۲۸ هـ ش کال د جوزا په ۲۲ نیټه په مغلگي باندې بمبارد.

۱۳۲۹ هـ ش کال د اسد په ۴ په واڼه باندې بمبارد.

۱۳۲۹ هـ ش کال د سنبلې په ۱۸ په مکین باندې بمبارد.

۱۳۲۹ هـ ش کال د میزان په ۱۱ په دانا باندې بمونه وغورځول چې په سلگو کسان پکې شهیدان او په زرگونو پکې ټپیان شول خو د ډیورنډ کرښه تراوسه نه افغان دولت او نه د پولې دواړو خواو اولسونو ومنله او د پاکستاني ریاست سره په دې اړوند تاوتریخوالی دوام لري.

# مغلگی او د خوست قومونه

خوست د هېواد په سویل ختیځ کې د ۱۸۴ کیلومتره په اوږدوالي د ډیورنډ د فرضي کرښې په اوږدو کې پروت دی او د هېواد د پلازمینې څخه د ۲۴۰ کیلو مترو په شاوخوا کې واټن لري. د خوستوالو ژبه پښتو ده، د خلکو اصلي کسب او کار بزګري او مالداري ده، خو د خلکو عادي ژوند لپاره لدې لارې ترلاسه کیدونکي غلې او پیسې د دوی اړتیاوې نه پوره کوي، له دې امله په دې وروستیو څو لسیزو کې د دې ولایت خلکو پر زراعت او مالدارۍ سربیره تجارت او په نورو هېوادونو کې کار کولو ته مخه کړیده.

دلته ټول قومونه لکه: (ځدراڼ، منګل، تنې، ځاځي، ګربز، اسمعیل خیل او مندوزي، صبري، بابکرخیل، مقبل، متون، شمل، لکڼ او کوچیان) د ورونړو په شان یو له بل سره ژوند کوي، تقریبا یو شان عنعنات او رواجونه لري، یو قوم له بل قوم څخه ځان لوړ نه بولي، په غم او ښادۍ کې یو د بل لاسنیوی کوي، خو د کنډو په خبره کې د یو تن په څېر عمل کوي.

د هېواد د خپلواکۍ ګټلو په جګړه کې د ټل فتح او د پولې د هغې خوا د پښتنو د ازادۍ غوښتنې د غورځنګ په ملاتړ د مغلګي په مقام باندې راټولیدنه د دې ولایت د خلکو د میړانې غوره بیلګې دي.

په ۱۹۴۷ ز کال کې کله چې د پاکستان د رامنځته کیدو اعلان وشو نو د پولې هغې خواته پښتنو د بنو په جرګه کې چې په ۱۹۴۷ ز د جون د میاشتې په ۲۱ مه جوړه شوه او پښتنو قومونو د خپلواک دولت غوښتنه

وکړه نو د برو پښتنو سرحدي قومونو هم د هغوی په ملاتړ غونډې وکړې.

د خوست او لويې پکتيا قومونه په همدې موخه په مغلگي باندې راټول شول تر څو د اړتيا په وخت کې د گورويک له تحريک سره مرسته وکړي. د خوست د غرو اوسيدونکي قومونه لا د راټوليدو په حال کې ؤ چې پاکستانيو الوتکو په ۱۹۴۹ کال د جون په ۱۲ چې د ۱۳۲۸ هـ ل کال د جوزا له ۲۲ مې سره برابره وه، د ورځې د لس نيمو بجو په شاوخوا کې په مغلگي بمونه وغورځول چې د خوست ولايت ۳۲تنه اوسيدونکي پکې شهيدان شول، له دې جملې د يوه شهيد نوم چې د ځاځي ميدان د الگاډې دی د خلکو له ياده وتلی، خو د پاتې ۳۱شهيدانو نوملړ د همدې ليکنې مل دی.

د خوست په قومونو کې لا تراوسه هغه خلک شته چې د مغلگي په جنگ کې يې په خپله حضور درلود، هغوی وايي چې ځينې کسان د غرونو پر سر په سنگرونو کې ناست ؤ او ځينو نورو په هواره کې اتڼ اچولی ؤ چې الوتکو پر اتڼ چيانو بمونه واچول، خو هغه خلک چې په مورچلو کې ناست ول روغ پاتې شول.

دا سندره چې وايي:

په مغل گي وينې ډونډونه = نه يې مرغان څښي نه يې ځمکه وچوينه

لا تراوسه هم د خوست ځينې سپين ږيري دا ټپه له ځانونو سره زمزمه کوي او وايي چې د پاکستان لخوا د مغلگي پر مقام ظالمانه بمبارد ممکن د هغو مرگونو او انساني تلفاتو ځواب وي چې افغانانو د پاکستان د آزادۍ لپاره د انگرېزانو او سيکانو پر ضد ورکړي دي.

# د مغلگي د شهيدانو نوملړ

| شمېره | پېژندنه | | ولسوالي | کلی |
|---|---|---|---|---|
| | نوم | د پلار نوم | | |
| ۱ | ملک | لعل الدين | ځاځي ميدان | چغان |
| ۲ | خواجه گل | ناری | ځاځي ميدان | چغان |
| ۳ | نياز محمد | نيز محمد | ځاځي ميدان | حسين خيل |
| ۴ | حيات | زينوکی | ځاځي ميدان | ستيکۍ |
| ۵ | مير گلان | فقير | ځاځي ميدان | شمشي |
| ٦ | جهانگير خان | شريندل | ځاځي ميدان | شمشي |
| ۷ | عزت گل | لعل الدين | ځاځي ميدان | کوټکی |
| ۸ | زر خان | خان | ځاځي ميدان | چغان |
| ۹ | سخي جان | جان | مرکز | متون |
| ۱۰ | ادم خون | لونگ | مرکز | کونډۍ |
| ۱۱ | موسی خان ((ځني خېل)) | ناصر خان | نادرشاه کوټ | قلندر دوه مندای |
| ۱۲ | اسماعيل جان | بلند خان | نادرشاه کوټ | نوی کوټ |
| ۱۳ | نيرگی | زامل خون | تني | سپرکی |
| ۱۴ | سپرلي خان | | نادرشاه کوټ | نوی کوټ |
| ۱۵ | اصيل | نوروز | نادرشاه کوټ | نوی کوټ |
| ۱٦ | شربت | | موسی خيل | ناري متې |
| ۱۷ | متو | مير اکبر | | قبر ټيم |
| ۱۸ | زر گل | خونوگی | قلندر | لنډي |
| ۱۹ | مت خون | عالم خون | قلندر | لنډي |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | عالم گل | تانک | قلندر | لنډي |
| ۲۱ | خان گل | ناظم گل | اسماعیل خیل مندوزي | برخانخیل |
| ۲۲ | میربادشاه | داود شاه | مرکز | لکڼ |
| ۲۳ | حلیم | شمل | نادرشاه کوټ | المره |
| ۲۴ | ذاکې | شریف خان | نادرشاه کوټ | المره |
| ۲۵ | میرا جان | خیال باز | نادرشاه کوټ | المره |
| ۲٦ | گل نواز خان | | گربز | |
| ۲۷ | محمد عمر خان | | گربز | |
| ۲۸ | سلامت خان | | مرکز | متون |
| ۲۹ | خون | | مرکز | متون |
| ۳۰ | باز میر | | مرکز | متون |
| ۳۱ | لاخی | | ځائې میدان | شمشي کلی |

# لنډ سفر او اوږد منزل

د مغلگي د کتاب اړوند اړینې معلومات په راټولیدو ؤ، خو د مغلگي د شهیدانو د هدیرې موقعیت او په هدیره کې د د دوی د قبرونو حالت او دا چې ٦٩ کاله وروسته به ددې نوم ورکو شهیدانو هېلې له موږه څه وي، د خوست قومي مشرانو د یوې کوچنۍ راټولیدنې په ترڅ کې داسې پریکړه وکړه چې د حالاتو مطابق دې دوه- دوه مشران د خوست له هر قوم څخه واخیستل شي او مغلگي ته دې یو ورځینی سفر ترسره شي چې همداسې وشول.

تېر کال د ۱۳۹٦ د عقرب میاشتې په۲ یمه نیټه د سهار په ۷ بجو د خوست په غرغښت تلویزویون کې راجمع شو، دا ځکه چې موږ د مغلگي د سفر د موخې ترلاسه کولو لپاره د غرغښت تلویزیون فلمبرداری، ځانگړې خپرونې او رپوټ ته ضرورت درلود، په داسې حال کې چې د غرغښت تلویزیون رییس سخي سرور میاخېل ماته ویلي ؤ، چې د مغلگي د سفر په وخت به د خپل ژورنالست طالب منگل په واسطه ستاسو د کاروان ملگري شو.

موږ د سفر ټولو ملگرو: - ۱ عزیزالله ځلاند ۲- میرنا گل تنیوال ۳ - همیم منگل ۴ - امین جان مجاهد ۵- ضیاالرحمن٦ - گل احمد خان گربز ۷ - د گل احمد گربز زوی ۸ - محراب خان گربز ۹ - مروت خان وطنجار ۱۰ - حشمت الله ځلاند ۱۱ – طالب منگل ۱۲- زیارت خان طوطاخیل او محمدگل.

د سهار په ۸ بجو د خوست له ښار څخه د مغلگي په لور حرکت وکړ او له ۴۵ دقیقو وروسته مغلگي ته ورسیدو، د هدیرې په احترام مو موټر لیرې ودرول، د شهیدانو د قبرونو په منځ کې کېناستو، د قرانکریم څو ایاتونه د مروت خان وطنجار لخوا تلاوت شول، بیا مو شهیدانو ته د مغفرت او ژوندیو ته د خیر غوښتنې دعا وکړه ما خپله یعنې د دې کتاب پیل گر عزیزالله ځلاند هغه وخت د شهیدانو تاثیر ولیده چې کله د دعا وروسته حاضرینو د مغلگي د شهیدانو د ارمانونو او د هغوی د پاکو هیلو د تحقق لپاره د موجوده او راتلونکو نسلونو پر مسولیتونو تلویزیوني مرکې پیل کړې.

سره د دې چې موږ د مغلگي پر مقام د خپلو مرکو اوږدوالی او سور معلوم کړی و، خو موږ پوهیدو چې کوربانه میلمانه نه خفه کوي، سره د دې چې د شهیدانو له قبرونو څخه غورځیدلو تیږو څه نه ویل، خو موږ چې یو بل ته وکتل نو پوی شو چې هغوی زموږ څخه ځینې پوښتنې لري او هغه ښایي داسې وي:

تاسو ولې ٦٩ کاله وروسته زموږ پوښتنه وکړه، په دې موده کې تاسو زموږ د ارمانونو لپاره څه وکړل او له دې وروسته به څه کوئ، هغه زموږ قاتلان اوس چیرې دي او داسې ډیرې نورې پوښتنې!!!

په داسې حال کې چې د مغلگي د شهیدانو د ډیرو پوښتنو ځواب راسره نه ؤ خو امین جان مجاهد او میرنا گل تڼیوال په څرگنده ورته وویل چې نه ډیورنډ منو او نه به ډیورنډ باندې له رنډ سره جوړ جاړی کوو او مروت خان وطنجار د څو ځوانانو په نماینده گۍ دوی ته خپل ټټر وډباوه چې موجوده او راتلونکی نسل به ستاسو په پله قدم ږدي او ستاسو ارمانونه به نه هیروي، دا وعدې مو وکړې او د خوست مرکز په لور بېرته را روان شو.

**د مغلگي په مقام د قومي مشرانو سره مرکې:**

د مغلگي د شهيدانو پر مزار د گربزو د قوم يو تن مشر گل احمد گربز د شفاهي وينا متن.

بسم الله الرحمن الرحيم

دا سيمه چې نن موږ او تاسې په کې ولاړ يو د مغلگي په نوم يادېږي، چې د شرق خواته يې نازي خېل او غلام خان پراته دي، د غرب خواته يې کځکی او د ښوديکې سيمه ده او سويل لويديځ لوري ته يې ژور پروت دی، چې د روسانو په مقابل کې د جگړې پر مهال د مجاهدينو يو مهم مرکز وو.

زموږ دولت ته چې کومه اطلاع رسيدلې وه، د گربزو د قوم مشرانو ته تورنجنرال نصرالله خان ويلي ؤ، چې گربز د شپې لاړ شئ هغه ځای (مغلگی) ونيسئ او سباته به زه د خوست نور قومونه هم درولېږم.

د گربزو قوم د شپې مغلگي ته لاړ او په سبا يې نور د خوست قومونه هم مغلگي ته ورسيدل. د راټوليدنې په درېيمه ورځ د ورځې د لسو بجو په شاوخوا کې دوې جنگي الوتکې راغلې او په داسې حال کې چې خلکو د خپل لرغوني دود او دستور له مخې ملي اتڼ کاوه پر خلکو يې بمباري وکړه، لويه انساني فاجعه رامنځته شوه، له بمبارۍ وروسته خلکو خپلو ځايونو ته د ټپيانو او شهيدانو ليږدول پيل کړل او د خوست د بيلابيلو قومونو راټوليدنه هم پای ته ورسيده.

**د مغل گي د پيښې په اړوند د مغلگي په مقام د قومي مشر همیم منگل مرکه:**

د مغلگي پېښه د لرو پښتنو سره د برو پښتنو د يووالي او پيوستون داسې بېلگه

ده چې د تاریخ په پاڼو کې به د همیش لپاره ثبت وي. د مغلگي پر میدان د لوېې پکتیا قومونه د دې لپاره راټول شوي وو، چې د انگرېزانو د ځای ناستي پاکستان د زېرېدو پرمهال د پښتنو حقوق تر پښو لاندې شول، د دې پرځای چې پښتانه خپل سرنوشت په خپله وټاکي انگرېزانو او د هغوی گوډاگیانو د هغوی پر حق لوېې وکړې او دوی یې د تش په نامه ټاکنیز بهیر له لارې په پاکستان پورې وتړل.

همدا لامل وو، چې لرو پښتنو په بیلا بیلو برخو کې د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره سوله ییزې غونډې پیل کړې او د لویې پکتیا قومونو د دوی د ملاتړ په موخه مغلگي ته راجمع شول، د راټولیدنې په درېیمه ورځ د پاکستاني طیارو لخوا پرې بمونه وغورځول شول، چې زموږ د منگلو د قوم یو شمېر میړني غازیان هم پکې شهیدان شول دا وخت د پاکستان د پوځ مشرتوب د انگرېزانو په لاس کې وو، چې د ۱۸۴۸- ۱۹۵۱ کال پورې انگرېز جنرال گریسي د پوځ قوماندان وو. د مغلگي غمیزه به تل لپاره د افغانانو په یاد وي او د خپلو شهیدانو ارمانونه به نه هیروي.

**د مغلگي د شهیدانو په هدیره کې د ځدراڼو د قوم مشر محمد گل سره لنډه مرکه:**

د مغلگي د شهیدانو د هدیرې په لیدو سره ماته د حلیم او ذاکي خاطره را یاده شوه چې په چپرکټونو باندې یې بلنډې وریدې بیا خلکو له ملایانو پوښتنه وکړه نو هغوی ورته وویل چې چپرکټونو پښې په اوبو کې کیږدئ نو بلنډې په مړې شي چې همداسې وشول، محمد گل په خپلو خبرو کې زیاته کړه چې مغلگی د ډیورنډ د تورې کرښې رادیخواته د گربزو د ولسوالۍ

اړوند د یوې ساحې نوم دی چې غر او هواره دواړه لري د خوست قومونو د مسلمانۍ او پښتونوالۍ له مخې د پولې د هغې خوا پښتانو په ملاتړ دلته سولیزه غونډه درلوده چې پاکستاني الوتکو پرې بمبارد وکړ، د خوست قومونه نن هم د خپلو شهیدانو ارمانونو ته ژمن دي او هیڅ کله به د هغوی خاطرې له یاده ونه باسي.

## مغلګی او محراب خان ګربز:

### د مغلګي د پیښې په اړوند د محراب خان ګربز لنډ توضیحات:

د مغلګي په اړوند فرقه مشر نصرالله خان زموږ وکیل محمد خان او د ګربزو قوم ځینې نورو قومي مشرانو ته دنده سپارلي وه چې ګربز دې د شپې لخوا مغل ګي ته ځانونه ورسوي، حاکم نقاط دې ونیسي او د اطمینان په خاطر باید هلته اورونه بل کړي، زموږ قوم هماغسې وکړل، چې په سبا یې د خوست نور قومونه مغلګي ته د ډولونو په وهلو ورسیدل. مغلګي باندې د خوست د قومونو د ټولیدنې په درېیمه ورځ د پاکستان طیارو بمونه وغورځول چې ګڼ شمېرکسان پکې شهیدان او ټپیان شول، چې درې تنه زموږ ګربز هم په کې شهیدان شویدي. مغلګی د افغانستان خاوره ده افغانان او په لومړی کرښه کې د خوست قومونه د پخوا په څیر بیا هم له مغلګي دفاع کوي او په دې لار کې که هر څومره تاوان ووینې د ځان په ګټه یې حسابوي.

### د مغلګي په اړه د خوست د منګلو د قوم د یوه مشر مرحوم امین جان د وینا لنډیز:

موږ نن ورځ دلته د خوست د ټولو قومونو نماینده ګان راغلي یو او د هغو

شهیدانو پاکو روحونو ته دعا کوو چې د خپل دین او خاورې د ساتنې په منظور یې د مغلګي په مقام خپل سرونه قربان کړي دي، که څه هم ظاهرا په دې هدیره کې زموږ د شهیدانو پاک جسدونه تر خاورې لاندې دي خو ارمانونه یې ژوندي دي او تر هغو چې یو افغان موجود وي د دوی خاطرې به ځلانده ساتي، افغانانو هیڅ وخت د ډیورنډ کرښه په رسمیت نه ده پیژندلې او هیڅ کله به یې ونه مني.

**د قومي مشر میرنا ګل تڼیوال د وینا لنډیز:**

د پاکستان تر جوړیدو وروسته پوره څرګنده شوه چې انګرېزان د پخوا په څیر د افغانانو سره دښمنۍ ته دوام ورکوي او په دې لار کې د پښتون ولس په وړاندې خپلې ذمه وارۍ په بې باکي او غیر مسولانه توګه تر پښو لاندې کوي، ځکه نو هماغه وخت افغان دولت د پاکستان جوړښت په رسمیت ونه پیژانده. د ډیورنډ د کرغېړنې کرښې د هغې خوا پښتنو د سوله ییزو غونډو په جوړولو پاکستان سره د پریکون اعلان وکړ، لر او بر قوتونه په یوه خوله شول او پریکړه یې وکړه چې د ډیورنډ کرښه چې د پښتون غیرتي قوم یې ویشلی دی چې په هره بیه کیږي باید له منځه یوړل شي. همدې موخې ته د رسیدلو په خاطر د خوست قومونه مغلګي ته راجمع شوي وو، تر څو د پولې د هغې خوا پښتنو د پلان سره سم په مناسب وخت کې د هغوی مرستې ته ځانونه وررسوي، که څه هم په دې وخت کې د پولې هغې خواته د پښتنو لخوا د کوم وسلوال اقدام خطره موجوده نه وه، خو بیا هم پاکستانیو الوتکو په مغلګي بمبار وکړ او د خوست د قومونو په لسګونو بې ګناه کسان بې شهیدان او ټپیان کړل. نن ورځ چې له هغې پیښې څخه تقریبا ٦٩ کاله

تيريږي بيا هم قومونه په خپل هوډ باندې کلک ولاړ دي او د خپلو سرونو په بيه د خپل هېواد د خاورې، ځمکنی بشپړتيا او خپلواکی څخه دفاع کوي.

**د مغلګي د شهيدانو په اړوند د مروت خان وطنجار دشفاهي وينا لنډيز:**

زه او زما سره د خوست د درنو قومونو يو شمېر ځوانان چې د مغلګي د شهيدانو مزار ته يې تشريف راوړئ، که له يوې خوا د دې خونړی او بدمرغې ورځې په پېښېدو خواشيني يو، خو بل لوري ته پدې وياړو، چې د ډيورند د تحميلي کرښې د پرېکړې پر وړاندې زموږ غيور او زړور پلرونه او نيکونه بې پرواء نه ول، بلکې د خپلو امکاناتو او احساس په چوکاټ کې يې د پولې د پورې غاړې د پتمنو پښتنو سره د يووالي او اتحاد غږ غبرګ کړی دی.

د مغلګي شهيدان او پدې ورځ نه هېريدونکې حماسه د دې خبرې ثبوت دی، چې مشرانو مو د پولې د هغې غاړې پښتانه د خپل وجود حصه بللي او دې ته نه دي حاضر شوي، چې په اسانه دې يوازې د هغه وخت د برتانوي ښکيلاک په وېش پښتانه په زړونو پرې شي.

مغلګی موږ ته ښيي، چې په هره بيه بايد د پښتون لرغونی ټبر يو لاس شي او لدې ځايه د ښکيلاک پټ او ښرګند لاسونه لنډ کړي.

موږ د تاريخ په يو داسې پېر کې يو، چې د ښکيلاک په لاس ويشل شوي ډېرو ملتونو خپل لوری موندلی او د ظلم او استبداد ځنځيرونه يې شکولي دي.

افغانان چې د ظلم او استبداد پر وړاندې مبارزه يې د ژوند يوه برخه ده، باور لرم چې يوه ورځ به د برلين د ديوال په شان دا کرښه هم له مخې پورته کړي او د تل په شان لر او بر يو افغان شي. انشاالله.

**د مغل گي د شهيدانو په هديره کې د عزيزالله ځلاند سره د لنډې مرکې متن:**

په ۱۹۴۷ ز کال د اگست د مياشتې په ۱۴ مه چې د ۱۳۲۶ هـ ش کال د اسد مياشتې له ۲۲ مې او د پنجشنبې له ورځې سره برابره وه، پاکستان رسماً اعلان شو، د پولې هغې خوا پښتنو په بنو کې ستره جرگه راوبلله، چې دريو سترو گوندونو خدايي خدمتگاران، جمعيت علما سرحد او زلمی پښتون په کې گډون کړی وو، جرگې فيصله وکړه چې پښتانه نه پاکستان غواړي او نه هندوستان بلکې د پښتنو د ازاد او خپلواک رياست غوښتونکي دي، خو وروسته جرگه د انگرېزانو د شيطاني هلو ځلو په اساس بې اتفاقه شوه.

د کرښې د هغې او دغې خوا د پښتنو مبارزې دوام درلود، چې انگرېزانو طيارې راپورته کړې او مغلگی يې بمبارد کړ. دا دی له دې پيښې څخه پوره ۶۹ کاله پوره شوي دي، خو د خوست قومونو خپل شهيدان نه دي هير کړي او د هغه ستر ارمان لپاره به مبارزه کوي چې د شهيدانو وينې پرې توی شوي دي.

**د مغلگي پر پيښه د قومي مشرانو سره لنډې مرکې:**

د مرحوم سيداکبر زوی ولي ځدراڼ د ځدراڼو دقوم هغه مشر دی، چې د خوست د قومونو د ډېرو شخړو او دعوو په هوارې کې رغنده رول لري.

د مغلگي د جگړې وړاندې او وروسته يې تر شپږم ټولگي پورې مکتب ويلی دی، په ډېر غور سره د بل خبره اوري او په سړه سينه ځواب ورکوي. کله چې ما د مغلگي د جگړې پوښتنه ترې وکړه، نو ده راته داسې خپل ليدلوری او اوريدلی حالت بيان کړ.

زه اوس د ۸۳ کلونو یم، هغه وخت د لویې پکتیا په قومونو کې داسې اوازه خپره شوه، چې کډې به غرونو ته ځي او لښکر به په مغلگي جمع کيږي. د ډیورنډ کرښه به له منځه ځي، د کرښې هغې خواته پښتانه به د پنجاب نه په غوځ ډول ازادیږي. د خوست هغه قومونه چې مغلگي ته نږدې ول همدارنگه د غرونو د قومونو اړوند هغه کلي چې په سمه کې اوسېدل، مغلگي ته تر نورو دمخه ورسېدل. دوی د نورو قومونو د راتگ انتظار کاوه، په دې ځای باندې د راټولېدنې دربیمه ورځ وه، چې د هوا له لارې شپږ بمونه پاکستان په مغلگي باندې وغورځول، چې زیات تعداد خلک په کې شهیدان او ټپیان شول.

زما پلار راته ویل چې شهید حلیم د شمل زوی د لڅې خوا ته مونږ په اوږو راوړ، نورو قومونو هم خپل ټپیان او شهیدان په اوږو او اوښانو خپلو ځایونو ته انتقالول، دولت ډېر لږ امکانات درلودل او یواځې څو موټر په لڅه کې دمرستې لپاره موجود ول.

په دې جنگ کې د ځدراڼو د قوم درې کسان هریو حلیم دشمل زوی، ذاکي د شریف خان زوی، میراجان د خیال باز زوی، چې د المرې کلي اوسېدونکي ول، شهیدان شول.

ماتې او صدې چې دا هم د المرې کلي اوسېدونکي ول، دواړه ټپیان شول، که څه هم خاجي ولي ته د بمبار نېټه نه وه مالومه، خو دومره یې یاد وو، چې د جوزا میاشت وه او د المرې د غنمو د لونو وخت وو.

مېده خان د دیره خون زوی د خوست ولایت د نادرشاه کوټ ولسوالۍ د نوي کوټ د کلي اوسیدونکی چې دا مهال (۱۱۱) کاله عمر لري د مغلگي د پیښې په اړوند خپل د سترگو لیدلی حال داسې بیانوي: دولت قومونو ته

خبر رالیږلی ؤ چې خوست ښار ته څانونه راورسوي، قومونه د ولایت مرکز ته راټول شول په داسې حال کې چې ځینې کسان په آسونو سپاره ؤ ډولونه مو وهل د ژور په لور مو حرکت وکړ او بیا د مغلگي خواته وگرځېدو. قومونو د مغلگي ساحه د امنیت لپاره تقسیم کړه، په دریمه ورځ په داسې حال کې چې ځوانانو اتڼ کاوه الوتکو پرې بمونه وغورځول زما خپل آس اوس هم تر سترگو کیږي چې څنگه تېپي شو او بیا پر ځمکه وغورځېده. زموږ له کلي څخه څلور کسان هر یواصیل د نوروز زوی، نیرگی د زامیل خون زوی، اسماعیل جان د بلند زوی او سپرلي خان چې د پلار نوم یې راڅخه هېر دی خو د کونډې زوی په نوم یې شهرت درلود په دې پېښه کې شهیدان شول. دا چې مغلگي ته قومونه د څه لپاره تللي ؤ وایي چې موږ ته ویل شوي ؤ چې پک بادشاه په مغلگي باندې تاڼه جوړوي او باید چې مخه یې ونیول شي.

**د تنیو یو تن قومي مشر حکیموالي سره د نریزې په کلي د بمبارد په هکله لنډه مرکه:**

په شمالي وزیرستان باندې د انگرېزانو لخوا پراخ عملیات روان ؤ، حاجي میرزاعلي خان (ایپي فقیر) زموږ کلي ته راغلی ؤ او خلک یې د انگرېزانو په وړاندې جهاد ته هڅول، انگرېزانو ایپي فقیر لټوه ممکن هغوی به خبر درلود چې د نریزې په کلي کې دی په ۱۳۲۱ هـ ش کال د سهار د ۹ بجو په شاوخوا کې انگرېزي الوتکو په اکا جومات، د فقیرانو په حلوت او چشین پټې باندې بمونه وغورځول چې په دې بمبارد کې خپله اکا جومات او یوه زړه ښځه د پنځو لمسیانو سره په شهادت ورسیدل. دې بمبارد د تنیو د قوم

پر خلکو ډیر بد تاثیر وکړ او د انتقام لپاره ډلې ډلې د انګرېزانو پر ضد د جهاد سنګر ته روان شول.

## سدوخان د پاچا زوی په قوم منګل چې داوخت شاوخوا ۹۸ کاله عمرلري د مغلګي د غمیزې په اړوند یې خپل مالومات راسره داسې شریک کړل:

پاکستان دخپل جوړښت وروسته د ډیورند د کرغېړنې کرښې هغې خواته دپښتنو په جرګو او مرکو باندې لکه بابړه، قیصه خواني، ټکر، سپین تنګی او داسې نورو ځایونو باندې بریدونه وکړل او پښتنوته یې زیات ځاني تلفات واړول.

دخوست قومونه د لرو پښتنو د مرستې په خاطر مغلګي ته د ډولونو سره لاړل خو ټول لانه ؤ یو ځای شوي، چې په مغلګي باندې بمبار وشو هرقوم خپل شهی‌یدان او ټپیان په اوښانو او اسونو باندې خپلو ځایونو ته یووړل، زمونږ د منګلو له قوم څخه هریو، عالم ګل ولد تانک، مت خون ولد عالم خون، زرګل ولد خونګی، متو او شربت چې دقلندر دلنډي کلي اوسېدونکی ؤ په شهادت ورسېدل.

شهیدانو ته دولت په علیشېرو، بډاخېله او ځینو نورو ځایونو کې ځمکې ورکړې زمونږ قوم زخمیان هم درلودل خو وخت ډېر تېرشوی دی او مالومات یې رانه هیر شوي دي.

د متون قوم د خوست ولایت مرکز سره پیوست د شمال لور ته پروت دی، قومي سپینږیري غفورشاه او په ولایتي شورا کې د خوست د خلکو استازی امیرالله زړه سواند او یو تن روڼ اندي طلا محمد چې زمونږ سره یې د متون

قوم د شهیدانو په موندنه کې ډېره مرسته کړېده وایي، چې د متون قوم د خوست د نورو قومونو په شان د مغلگي په راټولېدنه کې ونډه درلوده، هغه وخت چې د خوست قومونه مغلگي ته ټولېدل لومړی تمځای یې متون وو.

د خوست ولایت دولتي ادارو مالي او تخنیکي کمزوری درلودې، نو ځکه د لښکرچیانو د اعاشې پیټی د متون د خلکو په اوږو باندې بار ؤ.

کوم وخت چې په مغلگي باندې پاکستانیو الوتکو بمباري وکړه، د متون قوم هم ټپیان او شهیدان درلودل چې د ټپیانو نومونه یې زمونږسره نشته، خو زمونږ پنځه تنه متونوال هریو، بازمیر د متون د شکرې کلي، ادم خون ولد لونگ د کونډیو کلي، سخي جان ولد جان د کونډیو کلي، خون د گینگینی کلي اوسلامت حان د توریانو د کلیو اوسیدونکي په شهادت رسېدلي دي.

د یادو مشرانو له انده چې په مغلگي باندې د قومونو د راټولېدنې موخه د ډیورند د کرښې د له منځه وړلو لپاره د کرښې د هغې خوا د پښتنو دازادی غوښتونکو هلوځلو ننگه او ملاتړ ؤ.

## د لکنو د بابرو کلي اوسېدونکی انجینر نقیب شاه په مغلگي کې د خپل شهید شوي نیکه میرابادشاه د شهادت کیسه راته داسې بیان کړه:

د پاکستان په رامنځته کېدو افغانستان او د ډیورند د کرښې هغې خوا پښتنو جرگې او اعتراضیه غونډې کولې او د پاکستان جوړښت یې د پښتنو سره ظلم باله. پاکستان هم په دا ډول جرگو باندې بمونه غورځول او پښتنو ته یې په زیاته کچه ځاني تلفات او مالي زیانونه واړول.

د خوست قومونو فیصله وکړه، چې د پولې هغې خوا پښتنو سره د دوی د روا حقوقو په ترلاسه کولوکې عملاً مرسته وکړي، ځکه نو د خوست قومونه

د خوست په چونۍ کې راجمع شول، بیا یې د لژې له لارې د ژور په لور چې د مغلگي د غرب خوا ته پروت دی، د ډولونو په وهلو سره بیا مغلگي ته وروخوځېدل او هلته تم شول تر څو له لښکر پاتې کسان راجمع شي او بیا به د پولې د هغې خوا د قبایلو په غوښتنه له هغوی سره مرسته وکړي.

د راتولېدنې په درېیمه ورځ د غرمې ۱۰ بجو په شاوخوا کې پاکستاني الوتکو په مغلگي باندې بمبار وکړ او د نورو قومونو د شهیدانو او ټپیانو تر څنگ زما نیکه هم شهید شو، مونږ اوس هم په خپل شهید نیکه باندې ویاړو او دعاگانې ورته کوو.

انجینر نقیب شاه وویل، چې د علیشېرو ولسوالۍ په ټولو کلیو کې یې د مغلگي د شهیدانو پوښتنه وکړه خو زما له نیکه پرته نور څوک د تریزیو او علشېرو په ولسوالۍ کې نه دي شهیدان شوي.

جانگل د سینا ماد زوی د تڼیو قوم د ورژلي اوسېدونکی چې داوخت ۹۰ کاله عمر لري، په تڼیو قوم کې دمغلگي په جنگ کې د گډون کیسه داسې راته بیان کړه: د تڼیو او گربزو قومونه نسبت نورو قومونو ته د مغلگي غره ته نږدې پراته دي، نو ځکه د نورو قومونو په پرتله ددې دوو قومونو زیات کسان مغلگي غره ته د جنگ لپاره ورغلي ول.

زمونږ قوم د مغلگي د غره په غرنۍ برخه کې تجمع درلوده، میراحمد خلیفه چې مشر زوی یې رسول محمد دی خلکو ته په تکرار سره ویل چې د الوتکو د راتلو په وخت کې یو ځای مه کښېنئ، همدا علت ؤ چې زمونږ قوم د مغلگي په جنگ کې شهید او ټپي نه لري.

جانگل د خپلو خبرو په وروستۍ برخه کې د جگړې د گډون کوونکو د اعاشې په اړوند وویل، چې ډوډۍ د دولت لخوا ورکول کېده، چې جېلانې

(دپخواني دفاع وزیر ډگرجنرال شهنواز تني ورور) او د گل شهواس پلار زمونږ د اعاشې مسول ؤ. کله چې بمبار وشو هر قوم خپل شهیدان او ټپیان خپلو ځایونو ته په اوږو او اوښانو بارکړل اوجگړه پای ته ورسېده.

جان میر ځاځی، چې دا وخت د خوست په ولایتي شورا کې د ځاځي میدان د خلکو استازی دی، په مغلگي کې د ځاځي میدان د قومي ترکیب او د مغلگي د جنگ د شهیدانو په اړوند داسې معلومات راکړل:

دځاځي میدان ولسوالي د څلورو قومونو څخه تشکیل شوی ده، چې هرقوم یې ځانگړی مشر او بیراغ درلود او دا څلور قومونه په دریو ونډو مشهور دي. له دې دریو ونډو شاوخوا (٨٦) کسان د مغلگي جنگ ته چې له ځاځي میدان څخه ٦٥ کیلومتره واټن لري پلي تللی ول.

جان میر د خپلو قومي مشرانو په اړه وایي، چې په مغلگي باندې د قومونو د ټولېدنې موخه د ډیورند د کرښې له منځه ایستل وو، ځکه نو پاکستانیو الوتکو په مغلگي بمونه وغورځول، چې زمونږ له قوم څخه دا کسان شهیدان شول:

١: ملک د لعل دین زوی د چوغانو کلي اوسېدونکی.

٢: حیات د ستېکیو اوسېدونکی.

٣: نیاز د نظرمحمد زوی د حسن خېلو د کلي اوسېدونکی.

۴: لالی د شمشي کلي اوسېدونکی.

۵: خواجه گل د نري زوی د چوغانو کلي اوسېدونکی.

٦: زرخان د خان زوی د چوغانو کلي اوسېدونکی.

٧: جهانگیر خان ولد شریندل ځاځي میدان ولسوالی

۸: میر گلان ولد فقیر ځاځي میدان ولسوالۍ.

۹: لاخی د ځاځي میدان ولسوالۍ اوسیدونکی.

جان میر ځاځي د خپلو څرګندونو په وروستۍ برخه کې وویل، چې زمونږ له قوم څخه یو بل نفر هم شهید شوی دی، د نوم پته یې نشته او په دې جنګ کې جمله ۸ کسان ټپیان شوي دي.

دا چې د ځاځي میدان قوم نسبت نورو قومونو ته ولې زیات شهیدان او ټپیان لري جان میر ځاځي وویل، چې د مغلګي په غره باندې دازادۍ د ولولې د لوړېدو په مقصد خلکو ملي اتڼ اچولی ؤ او زمونږ د قوم ډېرو کسانو پدې اتڼ کې ګډون درلود او انګرېزانو په اتڼ باندې بمونه وغورځول، چې له کبله زموږ شهیدان او ټپیان ډېر ول.

## د ګربزو یو تن مشر ګل احمد خان د ولي محمد زوی هم د مغلګي د جنګ په اړوند خپل مالومات راسره پدې توګه شریک کړل:

د مسیدو د قوم اړوند د خونسار په نوم یو پښتون حاجي محمدخان د میراحمد ګربز پلار ته اطلاع راوړې وه، چې پاکستان د افغاني فراریانو په مرسته غواړي چې په مغلګي باندې برید وکړي او خپل وسلوال قوت هلته ځای په ځای کړي. حاجي محمدخان له نصرالله خان فرقه مشر سره خبره شریکه کړه، فرقه مشر نصرالله خان وکیل محمدخان ته وویل، چې تاسو (ګربز) هغه ځای ته نږدې یاست، نو د شپې دمغلګي غر ونیسئ او سبا به نور قومونه هم ستاسې مرستې ته درورسیږي.

کله چې ګربز د مغلګي غر ونیسي نو هلته دې، د یوې ونې په سرکې اور بل کړي تر څو زه ډاډه شم چې دنده اجراء شوې ده.

د گربزو غیرتي قوم په هماغه شېبه د مغلگي غر اشغال کړ او سبا ته نور قومونه مغلگي ته وروربسېدل، په مغلگي باندې د خوست د قومونو د راټولېدنې مقصد د پولې هغې خوا د پښتنو ملاتړ وو، په مغلگي باندې د ورځې ۱۰ بجو په شاوخوا کې بمونه د انگرېزانو لخوا وغورځېدل او د گربزو له قوم څخه گل نواز خان او محمدعمرخان شهیدان شول، فیض محمدخان چې کله د پکتیا تنظیمه ریس مقرر شو، نو هغه له محمدظاهرشاه څخه فرمان اخیستی وه او د هغه فرمان له مخې یې د مغلگي د جگړې د شهیدانو وارثانو او مخورو قومي مشرانو ته په بدۀاخلېه علیشېرو، جونو غونډۍ، خلبیسات، کرم کلي او کاروان سرای کې د یوه شهید په سر یې ۵ جرېبه ځمکه ورکړه، په دې وخت کې حاجي محمدخان د میراحمدگربز پلار، حضرت علي د محمدطوفان پلار او ملک شاه جان د جهانگیر پلار د گربزو د قوم عمده مشران ول.

# انځوریز البوم



په نريزې کلي د انگريزانو د بمبارد په تړاو د حکيموالي سره مرکه



د مغلگي د پېښې په تړاو د گل احمد گربز سره مرکه



د مغلگي د پېښې په تړاو د شهید میر بادشاه لمسي انجینر نقیب الله سره مرکه



د شهیدې ګل غزرې ترور او د هغې د پنځو لمسیانو قبرونه.



اکا جومات چې انگریزانو ۱۹۴۲ز کال بمبارد کړ



د مغلگي په مقام له مرحوم ضابط امین جان مجاهد سره لنډه مرکه



د مغلگي په مقام له ښاغلي حمیم منگل سره مرکه



د مغلگي په مقام له ښاغلي محراب خان "گربز" سره مرکه.



د مغلگي په مقام له ښاغلي محمدگل "ځدران" سره مرکه.



د مغلگي په مقام له ښاغلي ميرناگل تڼيوال سره مرکه.



د مغلګي په مقام له ښاغلي مروت خان وطنجار او ځوانانو سره.



د طلا ګل سره مرکه



برتانوي پوځونه په ۱۸۳۸کال کې په افغانستان باندې د تېرى په حال
کې له بولان تنګي نه تېرېږي. داسې دار سته والى درلود چې روسي
پوځونه هم کولای سي د بولان له لارې په هند تېرى وکړي



دازادی د لارې مبارز حاجي میرزا علیخان (ایپي فقیر)

د خپلواک منځني پښتونستان ولسمشر حاجي میرزاعلي خان (ایپي فقیر)



د مغلگي د پېښې په اړه له قومي مشر حاجي ولي ځدراڼ سره مرکه.



د مغلگي د پېښې په اړه د خوست ولايتي شورا وکيل ښاغلي جان مير ځاځي سره مرکه.



د مغلگي د پېښې په اړه له ښاغلي سدوخان منگل سره مرکه.



دمغلگي پېښې په اړه د عيني شاهد ښاغلی میده خان سره د مرکې تصوير.




د نريزي د بمبارد په اړه د شهيدې گل غزرې له لمسي مومن سره مرکه.



د مغلگي د پېښې په اړه له عيني شاهد ښاغلي جان گل سره مرکه




د مغلگي د پېښې شهيد وکيل مير بادشاه تصوير




ځوان ژورنالېست طالب منگل چې د مغلگي سفر يې تنظيم کړی وو.









# د لیکوال لنډه پېژندنه

عزیزالله ځلاند په ۱۳۳۴ هـ ش کال د خوست ولایت د تڼیو ولسوالۍ د للمي کوټکي په کلي کې زیږېدلی دی، لومړنۍ زده کړې یې د دره ګي په ابتدایه ښونځي کې ترسره کړي دي، د دولسم ټولګي د فراغت سند یې د رحمان بابا له عالي لیسې څخه ترلاسه کړی دی، ښاغلی ځلاند په ۱۳۵۶ هـ ش کال د پکتیا ولایت د عالي دارلمعلمین د څوارلسم ټولګي څخه په اعلی درجه فارغ شوی دی او همدا شان یې یو شمیر لنډ مهاله کورسونه د هېواد په دننه کې بشپړ کړي دي. عزیزالله ځلاند د خپل ماموریت او دندو د اجرا تر څنګ په لسګونو علمي، سیاسي او ټولنیز سیمنارونو او ورکشاپونو کې برخه اخیستي ده.

(سیاست علم دی) اثر یې لومړی علمي او څېړنیزه مجموعه ده چې په ۱۳۸۹ هـ ش کال چاپ شوی دی، (مغلگي د تاریخ هېره حماسه) یې دوهم تاریخي او څېړنیز اثر دی چې همدا اوس د هېواد والو په خدمت کې دی او تر څنگ یې څو شعري ټولگې هم د چاپ لپاره چمتو دي.

عزیزالله ځلاند د خپل ماموریت په بهیر کې لاندې دندې په بري سره تر سره کړي دي. د ۱۳۵۷ څخه تر ۱۳۵۸ هـ ش کال پورې یې د خوست د املاکو د آمر په توگه دنده ترسره کړي ده، ښاغلی ځلاند د ۱۳۵۸ څخه تر ۱۳۶۲ هـ ش پورې د کابل په حربي پوهنتون کې د سیاسي مرستیال په توگه او له ۱۳۶۳ څخه تر ۱۳۶۸ پورې د خوست په پنځویشتمې فرقې کې د سیاسي کارکن په توگه پاتې شوی دی. له ۱۳۶۸ څخه تر ۱۳۷۱ هـ ش پورې د قومونو او قبائیلو په چارو کې د پنځویشتمې پلي فرقې د سیاسي مرستیال په توگه او له ۱۳۷۱ هـ ش تر دې دمه کومه رسمي دنده نه لري. ښاغلی ځلاند اوسمهال له رسمیاتو څخه بهر په سیاسي، ټولنیزو او مدني فعالیتونو بوخت دی، دې دندو د اجرا په وخت کې د غوره خدمتونو، شجاعت، صداقت او وفادارۍ له امله په زیات شمیر ستاینلیکونو، مډالونو او لوړو دولتي نښانونو ویاړل شوی دی.

په درنښت

قدرت الله ځلاند

خوست ښار